# کاروان

ادبی، تاریخی او اجتماعی

April, 61

2- SEP 25
Copy 1961

پرله پسې ګڼه: ۴۹۹

۲

رحمان بابا

# ځینی شمع غوندې ژاړی
# ځینی گل غوندې خندان

هسې تیز د رومی دوران — گویا برق دی درخشان
د آسیا په څېر گردش کا — په زمین باندې آسمان
کـکرۍ دی د سړیو — چه وو ړیږی تر دامیان
پیدا کیږی فنا کیږی — نه یې حد شته نه پایان
نه یې حد ونه پایان شته — نه یی سرشته نه سامان
ځینې ډول وهی ښادی کا — ځینې ویر کاد خپل ځان
ځینې شمع غوندې ژاړی — ځینې گل غوندې خندان
که یې گورې یو گلزار دی — که یې گورې یو بیابان
یوه هسې تماشا ده — چه یې هیڅ نشته بیان
کیفیت یې مونده نه شی — په دلیل و په برهان
چه یې کومه خوارفتن دی — یا یې چرته دی مکان
خدای خبر دی په دا علم — هیڅ خبر نه دی رحمان

# کابل

غویه (۱۳٤۰ ش) کال د (۱۳۸۰ ق) کال د (۱۹٦۱ ع کال اپریل او می

ادبي ، تاریخي او اجتماعي

امتیاز : دپښتو ټولنې

دپښتو ټولنې مشر : گل پاچا الفت

مسئول مدیر : محمد حسن کاکړ

د تیلفون نمبر : ۲۱۲۹۱

پته : شیر علي خان وات
نوی ښار ، کابل
افغانستان

# په دې ګڼه کښې


| شمېر | لیك | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | د رحمان بابا مشاعره | د ځینو شاعرانو ... | ۱ |
| ۲ | په شوروی اتحاد کښې ... | د معتمد شنواری ترجمه | ۲۰ |
| ۳ | نور څه کیږی | د قدرت الله حداد ترجمه | ۲۷ |
| ٤ | د پښتو افسانی په هکله | غوث خیبری | ۲۹ |
| ٥ | زمونږ د اخلاقو نوی بنسټ | م . علم . ناخدا | ۳۱ |
| ٦ | د لیکلو او ګړیدو په باب کښې | د عزیز الله پښتون مل ترجمه | ۳۷ |
| ۷ | د نړۍ ادبیات | د میرا کبر ترجمه | ٤۱ |
| ۸ | د کونړ په ساپیو کښې ... | عزیز الفت | ٤٦ |
| ۹ | ترجمه د ادب او صحافت په خدمت کښې | د عبدالله مسیزی ترجمه | ٥۰ |
| ۱۰ | راځه چه یو د بل خواخوږی شو | متین خوږیانی | ٥۳ |
| ۱۱ | بی کچکوله سوالګر | سید احسان الله هیر | ٥٤ |


## داشتراك بیه

«په افغانی»

په کابل کښې ۴۰

د هېواد په نورو برخو کښې ۴٦

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوی کښې بیه : ۴

د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کیږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب نمبر په افغانستان بانك

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

د اشتراك بیه په اداره کښې هم اخیستل کیږي

مولانا خادم

# درحمان بابا مشاعره

د نړۍ ټول ملتونه منلی شخصیتونه لری ، اوهم دغسې پښتونخواهم لوړ اومنل شوی سړی په خپلې غیږ کښې پالالی اولوی کړیدی . په دغوسړو اواشخاصو کښې رحمان بابا یو داسې ادبی او عرفانی ځای نیولی دی - چه ډیراوچت دی - اود هرافغان سر ورته په درناوی ښکته کیږی . رحمان بابادخپل جګ استعداد ، مشتعل طبیعت - قلبی مراقبواوافاقی مشاهدو لحاظ دانسانی حیات هغه رمو زاوا سرار پیژ ندلی وو - چه له ده شخه یې کو زد ستار تړلی قلندرجو ړ کړ ی و . دی عارف و. دی عاشق و . دی انسان و . اودانسان په درد درد من و . نه خلیل و - اونه داود زی - خوسره ددې ټولو بوخ پښتون و. دغوصفاتو اومزایا و ر دده کلام دومره خوږ کړی دی لکه انګبین . دومره یې مستانه کړی دی چه په شعر یې دپښتونخوا د باګرام تر کې هم نغمې وایی - هم رقص کا - اوهم خاندی . اودهر بیت مصره یې دومره جوشبویه ده لکه دخوبانوزلفې - د رحمان بابا د شعر زوردومره دی چه یوه مصرع یې پوره ملت پاڅوی . خارجی استعمارله ملکه باسی - او شاهان په تخت کښینوی : دغه دلیل دی چه : لو یې پښتونخواد خپل شعور اوویښتوب په حال کښې دیو مو کد سنت په حیث داخبره په ځان کنلې ده چه په هرپسرلی کښې به ځای په ځای د رحمان بابا په نا مه پښتومشا عرې کو ی . د رحما ن با با د مشاعرې دامعنی نه ده چه ټول شعر ونه به د رحمان بابا فضا ګلوته راجع وی مګرمد عابې داده چه دغه اشعار باید تبر کاً د ده لوی نا مه ته انتساب ومومی - اوپه ادبی - ملی - انتبا هی اوعالی مضامینومشتمل وی ، چه خود رحمان با با د لوړ رو حا نیت په بر کت دپښتو ژ به خپل ملی مرام او هدف ته ورسیږی . په تیرو کالونو کښې دهر حمل په میاشت په پښتونخوا کښې د رنی د رنی مشاعرې شوې دی چه د پښتنوزړونه

یې د پسرلی د ګلانو په شان تازه کړی دی . دغه اشعار په اکثرو ځایو کښې مشاعرې په وخت کښې په لاوډ سپیکرونو کښې خپاره شوی او په کتابی صورتونو چاپ شوی دی چه ذوقمندانو ترې ډیره استفاده کړی او د پښتو په ادب کښې لویه اضافه ګڼل شویده . رښتیا چه دیوه قام دژبې او ادب د روزلو او وده ور کولو د پاره دغسې لویې او قومی مشاعرې خوراسمه لار ـ او لویه وسیله ده . په عربو کښې د اسلام نه مخکښې همدغسی مشاعرې وې چه معلقې یې منځ ته راوستلې ـ او عربی ژبه او ادب یې هغه مقام ته ورساوه چه د اسمانی وحې د نازلیدو استعدا د پکښې پیدا شو . په تیرو پنځه ویشتو کلو کښې چه ډیرلږ عمر او دیوې پیړۍ څلورمه برخه ده ـ د پښتو ادب له هغو ګړنګو نو څخه تیرشوی دی چه ولویږی ـ یا وغورځول شی ـ اوس داد پښتنو د همت او غیرت ذمه واری ده چه په ټول قوت سره د پښتو بیرغ هسک کړی . نو په پښتو کښې بیا دزړه صلاحیت شته چه د پښتونخوا خاوره د اسمان دستور و مقام ته ورسوی . اوس غواړو چه مشاعره شروع کړو په اخره کښې پښتو ټولنه د هغو تو او ښاغلو شکریه په ځان لازمه ګڼې چه په دې مشاعره کښې یې ګډون کړی ـ یا یې خپل د رانه اشعار موږ ته را استولی دی . والسلام

★★★★★

## فرد او ملت

(۱)

په زرګونو کلو ژوند کړی ملتونه — په قرنو قرنو ځلمی وی اولسونه
د افرادو د عروج هسې مثال دی — لکه وی چه دریابونو کښې موجونه

(۲)

په اسلام کښې فرد تابع د جمعیت دی — د ملت اجماع قانون د شریعت دی
پس د خدای او د رسول له امرونهی — د ښو بدو معیار فکر د ملت دی

الفت

غلام جیلا نی جلالی

# د عبدالرحمن بابا د مشاعرې سندره

طبیعت بیا په خندا شو د بهار راغی دوران
د موسم مشاعره ده د بابا عبدالرحمن

د نسیم په مرسته خوردی ـ بوی د ګلو په ګلشن کښې
په صحرا ریدی سمسوردی بی منته د باغوان

مینه ګل ـ با ندی هم ګل شوی مستې پیغلې بیا نخا کا
د با می ـ غا ټول د یوې دی لګید لی په دامان

کبلې بیا په شنه مانده کښې په غور زنګ لوبې هوس کا
له ګوښو بې هوسی څار کا ـ لیکې غړی تور چشمان

په فضا کښې د مرغا نو ډک له خونده شور ماشوردی
زا نې ځی قطار قطار پښتنو نجونو په شان

بیا په لوړ او ځوړ هر لوری چه زرغون سمسور جنت دی
په هر بن کښې مشغولا کا ـ مرغان چونې بلبلان

سا لووا لی بیا هوسی غوندې رهی هسکو دروته
په اور بل بې په شور نګه قطار کړی دی ګلان

پیغلې کڅ کښې د شمشاد په ونو بیا وهی ټالونه
رنګ په رنګ ښکلی مرغان دی په باغو کښې غزلخوان

چه بې زا نګی توری زلفې د دلبرو په مخ ما ندې
لکه زا نګی د چندن په ښکلو څانګو تور مارا ن

د ښیر په لو ړه شو که بیا با می هسی جلوه کړا
لکه څرك وهلې ستر که چه ځلیږی په اسمان

پسرلی د ی ـ ژند بدل شو چټې خیژی سرد ر وله
استعما ر کړ ی چپا وونه رژوی روهی ګلان

څه به وا یم څه به لیکم سبز داخه راز پسرلی د ی
د با با روح ته زار ی کا همه وا ړه شا عرا ن

خلق و ا بی نو بهار شو ـ نو بهار خو هسې نه وی
چه په سرو اوښکو ګلزار کړ اشنا غولی دزندان

د پردی ظالم دلاسه د پښتون په کورا و کلی
لوټ روان دی - پر وطن مری پښتانه ښکلی زلمیان
سپین غر سپین ټکری په سر کړ نیغ ولاړ په هسکه غاړه
لکه گرانه مور چه څار کا د زامنو په میدان
دلیمو تو یوم وینې خدایه هغه ځوانان څه شوه ؟
چه په هر گاړ بوزی خاوره یې وژلی غلیمان
نه پوهیږم څه به وشی څه به کیږی پس له دینه ؟
بیا په شنو لوخړو پټ دی که خیبر دی که بولان
پښتنواله څه په کارده - دازادژوندون له پاره
د بابا نصیحت دا دی هر بچی ته په دې شان
د اشغال ښامار - رادرومی - ته داوسپنې ضربه شه
په سرداسې گوزارور کا چه پر څټ ځی زور گیران
پر غلیم کا نی راسم کا استعمار کړه د ړې و ړې
ازادی ناوی بی تو ری په بل څه نشی سامان
با جوړ د روش له ونو طوفانی سیلاب روان کړ
له خیبره پرې را کوز کاد کر کنډ و ښاماران
د غفلت له خوبه وښوره را پا څه شین زمری شه
د پلرو په څیر ازاد شه د پښتو جگ کړه نښان
معجزه شه سره لمبه شه د تیاری لیاری ډیوه شه
روغ ازاد پښتونستان کړه - د بهار راغی دوران
ستا دژوند په دې صحنه کښې در په غاړه نام و ننگ دی
فرصت مه باسه د لاسه کړه ازاد پښتونستان
څو مکیز تماموی پوه شه نرگس بهار به تیرشی
د پښتون بچیه پام کړه فرصت لږ دی مطلب گران
د اقدام له برکته گوندې و وینو په ستر گو
جگ په لوړه بیرغونه - د پښتون د خاندان
زموږ له دنگو - دنگو غرونه د پرتم نوبت ږغیږی
زموږ د فخر په اسمان دې د عزت ستوری ځلیږی

# سلام

برکت الله کمین سوررودی

چه مقام د محبت کښې بې نظیر دی
په ثناد ښکلو ښکلی یې تقریر دی
تخیل یې د دیوان په رنګینو کښې
لکه عطرد غوټیو په ضمیر دی
رند بې خوندا وشیخ یې پندله کلام اخلی
رهنما د ګمراها نو دی لوی پیر دی
استغنا یې د فطرت سرما یه بوله
طبیعت یې شاهانه ښکاره فقیر دی
د پښتو په شاعرانو کښې استاد دی
چې د عشق د عمارت ایښی بنیاد دی

ګرد شو د اسمانو تجربه کړی
غم ښادی د یارانو تجربه کړی
د جذباتو لیونتوب زندانی کړی
اطمینان او پریشانو تجربه کړی
لکه و نه مستقیم پخپل مکان کښې
تحول د زمانو تجربه کړی
د دنیا لوړ و ژور او کښته پورته
په رنګینو افسانو تجربه کړی
تجربه او ازموده په هر میدان دی
که قوت یې د پښتو که د ایمان دی

سوزو ونکی عبارت یې ډک له درده
غواړی یو کتاب تفسیرله هر یو فرده
په ساده دنیا کښې ښه ترجمانی کا
د دنیا او د عقبا له کرم و سرده
داسې ډیر پښتانه تللی او راغلی
پاته کیږی د مردی نښه له مرده
ګوندی ستاد نغری اور بیا را تازه کړی
بیا مړ ونه پاڅی ستاد پښتو له ګرده
زه کمین په ډیر اخلاص او احترام
د رحمان په حالی روح وایم سلام

محمد عالم اتمان

# رحمان بابا او پسرلی

پسرلی دی ونې شنې شوې — باغچې ته کې شوې له ګلو
سمه غروا ړه کو کیا نه — وزمې خیبز ی د سمبلو
بیا د ګلو تا ند ې لښتې توتیا ن نیسی په منګو لـو
ترا نې خوږ ې نغمې د ی — په چمن کښې د بلبلو
نجونه پاس په ور بل باند ې، سره ګلونه د ګلزار زدی
پښتا نه د بابا تلین کا ـ ا وغونچې یې په مزار زدی
پسرلی دی ونې شنې شوې — غنې شنې شوې شنه ځنګلونه
شنې شوې مځکې، شنه باغونه، شنه شوه غرونه، شنه رغونه
شنې میرې شوې شنې بیدیاوې — شنه ړا ګونه شنه چولونه
شین هیواد او شین وطن شو، شین ماه من شنه چمنونه
ور بیخ تا لنده بریښنا ده — بارانونه پرې وریږې
د بابا قبر جنت دی، رحمتونه پـر ې وریږې
پسرلی وطن زرغون شو — بز ګرملا تړلې کارته
دباغ بن کوی پالنه — ر ا شه و ګوره ما لیار ته
شپانه بیابی رمې ځړته — مرغان درومی مرغزا رته
وری بار کړه سوداګرو، هڅه کړی د کـاروان لارته
چارند وکی په چار ځو کښې، لګیاوینم کارو بار کړی
هیر بهیر د خزند ودی، هریو وینم دنده زیار کړی
د ابها رښکلی بها ردی، نوی ژند د نبا تا تو
خوځیده حر کت و ینم، د د ې واړ و کا ینا تو
رنګ بدل، بڼه بد له، نن د وا ړو موجو د ا تو
نوی پلان، نوی زما ن د ی، د پښتون د حر کا تو
پښتا نه را پاځید لی، نن بی و ر ځ د خوشالۍ ده
د رحما ن ور ځ داختر ده د اسمان شپه ګی ښاد ی ده

ړنګ خوږیانی

## یوه غلی شان پوښتنه

راځه راځه زما بهاره اشنا
په انتظار وم ستا په لاره اشنا
در سره نوې پیژندنه کوم
بس یوه غلی شان پوښتنه کوم
راتیر یدې چه د رحمان په مزار
آ د صوفیانو د سلطان په مزار
وی زمزمه به د اشعارونه ډک
د شتمنیو د شعارونه ډک
راځه راځه زما بهاره اشنا

☆ ☆ ☆

تش د سرو ګلو د چمن بهاریې؟
که ویده شوی زړونه هم ویښوې؟
چه یې کورونه استعمارورانوی
چه شکنجو د استعمارو ژلې
دغه قدرت در سرشته که نشته؟
هومره طاقت درسره شته که نشته؟
چه واحلم خوند ستاله اظهاره اشنا
راځه راځه زما بهاره اشنا

☆ ☆ ☆

نوی تغمی دی په وږمو کښې څه دی
په پښتنې فن چه رباب کمه سور
چه سوی ساندی شې راټولی سره
د استعمار په کور لمبې شی داور
د رحمان روح د پښتنو مل شی
د غاصب کور باندې جوړ یرغل شی
استعمار پرې باسی له کاره اشنا
راځه راځه زما بهاره اشنا

بر دی غا صب پښتا نه وژنی په چل
پښتو غیر ت ر اپا ر یدلی که نه !

ز غم خو د غو مر ه حو صله د غو مره
د خو شا ل قبر تړ کید لی که نه

پښتو نو لی نو ر داز غمی کله شی
حق اخست کیږ ی و ر کیدی کاه شی

د پلا ر په پل ځم سپینو نه کو م
بس یو غلی شا ن پو ښتنه کو م

☆ ☆ ✱

بها ر ه ځه مخه پنا که ر ا نه
تا د خیبر غرو نه حیران نه لیده

آ د ظالم د استعما ر په چړ و
تا نیم بسمله با جو ړ یا ن نه لیده

ار ام طلبه د ا غیر ت کـلـه د ی
د ځا ن غو ښتنه ستا صفت کله د ی

ځه په قر ا ر ه نا قر ا ر ه ا شنا
ر ا ځه ر ا ځه ز ما بها ر ه ا شنا

✱ ✱ ✱

آ پښتنـو آ میـړ نـو پښتنـو !
د میړ نـو با با هـو نه سـو ز ی

په بمبا ر ر و یو ځپا وو نو باند ې
د شا ځلمو ښا یسته کو ر و نه سوزی

چیرته غیر ت یوز ر ه شته که نشته؟؟
ا د ملالی نا ر ه شته که نشته ؟ ؟

چغه که پو رته بی ا ختیا ر ه ا شنا
ر ا ځه ر ا ځه ز ما بها ر ه ا شنا

✱ ✱ ✱

عبدالکریم محب

## د بابا یاد

دلته چه دیوانو ښا پیر و مسته نڅاو کړه
دلته چه در خودادم خان سره خنداو کړه
دلته سر درو کښې چه طوطیانو جالې جوړې کړې
زرکې په مستۍ چه یې لمنه کښې غوغاو کړه
دلته چه سپرلو کښې یې په دښتو کښې کلان خاندې
دلته دسپرلی ګډا چه پیغلو په صحراو کړه
دلته چه ملا له په میوند کښې قربانی ستایی
دلته شیرینو د مومن خان نه چه حیاو کړه
دلته چه باړه لنډی آمو په غور زنګو نو ځی
دلته چه خیبر دتیر وتور و تماشاو کړه
دلته چه یې یاد کښې ابدالی دډیلی تخت هېر کړ
دلته چه له ویرې سکندر د ځان ژړاو کړه
دلته چه ماسل او دریا خان عمرا خان میشت وو
دلته چه روښان دهر ظالم سره غزاو کړه
دلته اکبرخان دغلیم سرې وینې چه توېی کړې
دلته نادرخان چه دازاد ژوند ابتداو کړه
دلته پښتو نخوا کښې چه شعرو نه ښکارندوی ویل
دلته بیټ نیکه چه خپل کهول لره دوعاو کړه
دلته چه حمید په شاعری کښې موشګاف شو لو
دلته چه خوشال دپښتنی غیرت وینا و کړه
دلته خورحمان شعراوا دب ته نوی رنګ راوړ
نوی موسیقار ته یې دنوی ژوندا هنګ راوړ

نن که بیا پسر لی ته هر کلی سم او بیا بان وا بی
شپون مسته شپیلۍ کښې خوسندره درحمان وا بی
د آ مو د با با د جذ بو ډک غز ل ستا یلی د ی
بیاد لیبز دنغمې چه د کیبزدی خواکښې ځلمیان وا بی
نوی رنګینی که بیار نګین غوندې جهان جوړ کړ
مو نبز ته زوړ شاعر دپخوانور نګین دا ستا ن وایی
بیا که نو ی وخت ته د باغ سرو ګلو خند لی دی
مونبز ته په خند ا دژوند سند ره شاعرا ن و ا بی
خیردی که نسیم بورا ته پټ غوندې څه و و یل
مو نبز ته ماجرا به دبو را ا و ګل با غوان وا بی
بیا که سم ا وغر کښې حر کت سپرلی پید ا کړلو
مو نبز ته دمنزل غزل دنوی ژوند کاروان وایی
بیا به مو وطن ته د احمد د وخت سپر لی را شی
حا ل د مستقبل مو نبز ته شو کت دتیردوران وایی
د لته لا پخو ا د نو ی ژ وند و ز مې را غلې و ې
نن چه په صحرا کښې دځوانۍ سرو د ګلا ن وایی
نن چه د ریدی دزړه نه وینی غور کښې بیا ځاځی
نو و پښتنو ته بیا قصه د تیـر ا فغـا ن و ا یـی
نو ی ا ستعما ر ته پښتا نه ځلمی را غو نډ به شـی
بیا د ننګ سند ره چه قبر د میر ویس خان وایی
بیا خو د رحمان د هد یرې نه د ا پیغا م را غی
پاڅیء بچو پا څیء بیاموو خت دا نتقا م ر ا غی

ع قتیل خوږ یا نهـی

## پسرلی شو!

ښه دو ره دنو بهارده، بدل شوی دصحرا رنگ؛
آ شنا ځه چه ځو چمن ته ، کړو بدل دتماشا رنگ
دبید یالمنې سرې دی ، کرامت د پسر لی دی
د بهار ښکلی اثر دی، بدل ښکاری دد نیا رنگ
د سکون د وره شوه تیره، بهار دازیری راوړی
ښه د وره د حرکت د ه، معلومیږی ور ته دا رنگ
دا خزان وهلی بوټی،غلی علی را او چت شـوه
مړو کښې روح د ی چلیدلی،هرطرف شو دښکلا رنگ
مشاطی دطبیعت دی ، په ښکلالاس پورې کړ ی
خا ټول ځکه په خندا کښې،تخنوی دا بتد ا رنگ
داد کال ځوانه دوره ده،ځوانی ځوانې هیلی غواړی
بدلول غواړی رو کیه، پسرلی دهر یو چـــا رنگ
ستر گو رو نظر ښا ئی، د بهار هـــرې ا داتـــه
رنگ نه رنگ آخستل ښایی،بدل غواړی دادا رنگ
شړل شوی له گلشنه، بلبل بیا گلو ته ر اغـــی
بد لوی په خوږه مینه ،آد تیر ی ځوریدا رنـگ
د(قتیل) دغه آرزوده،آشنا تابا ند ې پیر زو ده
دژوند ون لپاره سم شه،کړه بدل دتقاضا رنگ

فنا سا پی

## شبنم

ای شبنمه د لاله جام کښې سیماب یې
دغوټۍ پیاله کښې عطر د ګلاب یې

ستاهنداره کښې صفا نور او ځلا شته
پرخې ستا په توري شپې کښې هم رڼاشته

ته د ګل پرمخ خولې دشرم او ناز یې
هم د آب هم د ابرو سپیڅلی راز یې

دشنیلی په تیره څوکه هسې ښکاري
لکه اوښکې دبڼو په سر ایسار یې

په نڅا او پټ راځې د شپې چمن ته
بیا په غلا سبا یی وخته ځی وطن ته

د نسیم په وزرالوزې اسمان ته
ته په لمر مین یې ځې دعشق جهان ته

ته چه واولوزې د ګل مخ شي بې آبه
غوټۍ واړه بی پردې شی اې سیما به

ته را نه څاڅکی دستو رو د ژړا یې
در سته شپه ژاړې سبا بیا په خندایې

اې شبنمه ته د تو رو شپو تو رتم کښې
ژاړې اوښکې تو یوی دچا په غم کښې

ګوندې ستا به کوم یتیم کونډه یادیږی
چه دی اوښکې په دې شپه کښې راتوئیږی

یې د آب - ابرو - حیا او صفا ټکی
ددرد مند شاعر د زړه د ژړا ټکی

ستا دا نې زما د نظم آب وتاب دی
هر یو څاڅکی دې په در ګوهر حساب دی

په ګلپا نه کښې (فنا) ته زوړ شراب یې
دهنر او شعر د نیا کښې انقلاب یې

پرهیز

## رحمن بابا

نه پوهیږمه د رویش یې که سلطان یې خو یم پوه چه ته بابا د هر افغان یې
کله ناست په صومعه که په مغان یې که ناقد کله ناصح په بیل بیل شان یې
نه خلیل نه داود زی نه د چاخان یې
د نظر افق دې هسك دی لوی انسان یې

☆ ☆ ☆

په رندۍ کښې دې سرې سترګې خوښیدلې سجادې دې ساقی پښو ته غوړولې
دریاخرقې دې اور کښې سوزولې خرابات صومعه دواړه دې لیدلې
هلته دلته تاموندلی حقیقت دی
چه خدمت د خلکو عین عبادت دی

☆ ☆ ☆

څنګه تا چه پیژندلې دا دنیا ده پیژندلې داسې کله نوبل چاده
په شان شان سره غندلې ډیره تاده خو ګڼلې وسیله دې د عقباده
سترګو ره آفرین دې په پندار شه
آفرین لسان الغیب ستا په ګفتار شه

☆ ☆ ☆

په قسم سره مالك نه د دینا روې خو د خلکو په نظر کښې د نیا داروې
لکه ژرنده پخپل کور کښې په رفتار وې او به خور در رسیدل تل په وقار وې
قناعت دې تر خرقې لاندې اتلس و
پښتنو ته دې همدغه سبق بس و

☆ ☆ ☆

مستقیم وی لکه و نه په همت خپل په خزان او په بهار کښې په نوبت خپل
ګڼل یوشان دې تنګسه وه که راحت خپل نه پریښی په هیڅ وخت تا متانت خپل
کوږ دستار په سر تړلی قلندر وې
محترم ځکه د هر چا په نظر وې

☆ ☆ ☆

څنګه تا چه بابا ځان دی پیژندلی بل څوك کله دا سې ځان شی پیژندلی
څو مره ما چه ستا د یوان دی لټولی پیژندنه ستا شی ستا په خوله کیدلی
د دوهی پهغاړه ناست شاه جهان وي
او ړ همت خپل رسولی تر اسمان وي

☆ ☆ ☆

د نیا دارچه کوم خوندا خلی له د نیا نه تا موندلی دی د یدار د محبوبانه
تا د دین متاع خوندی کړه له بلا نه ډیرشه بیا موند تا د مینې تجلا نه
هغه عیش چه به بلبلو په ګلزار کړ
هغه خوند تا ته په برخه سو را نګار کړ

☆ ☆ ☆

د غنچې په شان په سل ژبو خاموش وي لکه بوی پهپټه خوله مدام په جوش وي
مدح هجو باندې بوه خوډیر په هوش وي بې پروا ته د دنیا له عیش ونوش وي
تا د نیا له د لبرا نو صدقه کړه
ما فیها دې هم د مینې بد رقه کړه

☆ ☆ ☆

که هر څوتاور کول د ننګ د رسونه که ښو دل دې پښتنوته لوړخو یونه
تا سره د دین د نیا و و لوړ خو بونه خوزده نکړل چا د ژوند د غه رمز و نه
ځکه پاتې قوم نن هم هغه شان دی
چه پخوا دی نن هم هغسې پریشان دی

☆ ☆ ☆

توجه کړه بابا خپل روحانیت کښې پری غواړه د خپل قام په هرساعت کښې
چه شی یا د بیا پښتانه په حریت کښې د کړی ژوند د خپلې خوښې په عزت کښې
چه بیا جوړ د پښتونخوا پښتونستان شی
د پرهیز به هم پوره د زړه ارمان شی

☆ ☆ ☆

ممنون

## رحمان بابا او پسرلی

بیا مې د زړه و هلی تمنا و یښه شوه
جذبه را ویښه په مغزو کښې مې غوغا ویښه شوه

نور به مړ پړ دژوندډ گر کښې گوری ءنه گرزمه
جنبش او ژوند راغی چه اوس مینه زما ویښه شوه

لاله په دښتو کښې شو ویښ او ارغوان په غرو کښې
گلاب هم پورته شو دا ځکه چه ښکلا ویښه شوه

په نندار تون دژوندانه کښې خوشالی وینمه
چه تلو سه بیاد پیمخو په نڅا و یښه شوه

خمود جمود له مینځه تلی زما نه و یښه ده
اوس میخا نه ترور ه ښکاری او مینا ویښه شوه

اوس دآمو او هر برود موجونه زیات ښکا ریږی
دا باسین زړه کښې هم هڅه دبقا ویښه شوه

دتودو وینو حرارت چه شو فضا نه پور ته
پاس په فضا کښې دتېرې تورې بر یښنا ویښه شوه

دساړه ژمی بد رگه په ا و سیلو کیدله
اوس پسرلی دی دهر چا خوله په موسکا ویښه شوه

رحما نه ستا ددردید لو ابدی نغمو نه
که خدای کول اوس لرو بره پښتو نخوا ویښه شوه

که کور او گور او پیښور درته یوشان بریښیدل
اوس هم په نوی طرز هغه دغم بلا ویښه شوه

مه خفه کیږه باجوړ واو دمومندو زړو کښې
دقومیت خو زه جذبه لکه پخوا ویښه شوه

پښتون به څنگه غلامی او اسا رت ومنی
اوس دقومی تحریك په نوم چه افریقا ویښه شوه

دازادی علمبر د اریم داد عوا کو مه
زما په غبز زما په ډول واړه ایشیا و یښیږی

محمد عثمان نژند

# درحمان باباتلین

ربه پخوا غوندې له تا ځینی عزت غواړم
ها پخوانی شوکت اوشان هالوی قدرت غواړم
هرڅه بدلیږی د فطرت د مقتضا سره سم
د تحول خواته فکرونه هرساعت غواړم
د تمدن کاروان دهر چا ارتقا په لور ځی
دخپل هېواد دژوند کاروان لره سرعت غواړم
مال اودولت که وربخښې هغه نوستا خوښه ده
اول د کام له پاره پوهه ـ بصیرت غواړم
له ځان ځانیه امان را کړې بې ننګی رانکړی
مرګ وی که ژوندوی باك یې نشته مګر پت غواړم
که په یوه لاس کښې قلم بل کښې د تورې زوروی
دافغان نسل په نصیب فتحه ـ نصرت غواړم
چه د «نژند» دخاطراتو پریشانی لری کړی
هروخت راجمع خیر اندیشه جمعیت غواړم

مجاور احمد زیار

# آواز

له مړو خاورو پورته شوې تمنا یم ارمانجنه خاطره د نن سبا یم
د ردیدلی یو احساس یمه د مینې یو پرچم یمه تك سور د زړه دوینې
د ستی سوی ځیګر سوې ناره یم په شپیلۍ کښې د شپونکی یوه لاره یم
یو تصویر یمه د هیلو ارمانونو تحنید لې تلوسه د امیدونو
یوه څړیکه د پرهار یمه په زړه کښې یو څڅوا کی یم ډنډ شوی په لیمه کښې
یمه ټکه د بریښنا سره ملګرې خبرومه ستر ګورپ کښې نژدې لرې
د حسرت او سوزو درد یو اوسیلی یم مړ او وګلو د چمن ته پسرلی یم
یم زګیروې د یتیمانو کونډ ورنډو یم سلګۍ د وږو تیږو د بربنډو
د سپین غره په څوکو لګمه وږمه یم زیرو بم کښې د رباب یوه نغمه یم
یم د عشق یوه لمبه سړو سینو کښې یوه جذبه د محبت یمه په زړو کښې
یم شکوه د استعمار سختو ظلمونه یم خبر د جیلخانو تورو تنبونه
انګاره د جرسونو د نهضت یم یوه چیغه د پښتو او د همت یم
یمه ځل د پښتنی تورې تیرې زه رڼومه د وطن توری تیرې زه
هنګامه د جنبشو او د لمسون یم د یو والی یو پیغام د ټول پښتون یم
یو مضمون یم سرنامه مې ازادی ده د خپل قام د غلیمانو بربادی ده

یواو آزایم که مې هر څه بولې زیاره
یمه راغلې د رحمان د لوی مزاره

عبدالله بختانی

# اې بابا

لوی انسانه اې بابا عبدالرحمانه د پښو خاوره دې اوچته له اسمانه
د اخلاص بلند مقام لره ختی شې په یوه قدم تر عرشه رسیدی شې
اې بابا ! دخپل پر یوتی قام له درده کله ؟ چا ؟ درته ویلی څه ؟ له درده
اې فقیره ! اې د زړو د ملك امیره !
رارسیږه اې رحمانه لویه پیره !

☆ ☆ ☆

بند په بند دی جلا کړی ظالمانو کور په کور سره ویشلی شیطانانو
لا تراوسه شته تیری د غاصبانو « په سبب د ظالمانو حاکمانو »
«کور او ګور او پیښور درې واړه یودی » خوار پښتون - لوڅ او نهر درې واړه یودی
کم نصیبه دی له علم او له تنویره
رارسیږه ای رحمانه لویه پیره !

☆ ☆ ☆

په محکوم پښتونستان کښې ظلم وزور دی د ژوند وله ژوندانه ځنې زړه تور دی
په ازاد پښتونستان ګولۍ وریږی اور د ظلم او استعمار پکښې بلیږی
عفو غواړم - په دې حال باندې زوریږم ترخې وایم له موضوع نه بهر کیږم
رارسیږه « بختانی » ته لویه پیره !
د پښتو ژبی ادب کښی عالمګیره !

خادم

# شاعر او قوم

هر ملت چه شاعر نلری نادار دی
خو شاعر چه قوم نلری نو خوار دی

په خپل سر به څوك عالی مرام سر نه کا
چه روان د قام په سر کښې شی سر دار دی

چه په لاس کښې یې د قوم سر مایه ده
نو شاعر که ډیر غریب وی دنیا دار دی

چه په نظم سره درومی نو ملت شی
خو بې نظمه که کاروان وی هم بی کار دی

د شاعر مصرې دا رو دهغه قام دی
چه هیر شوی ترینه ذوق دابتکار دی

د حکمت ګولۍ ته پوښ د شعرور کړه
ای د قام طبیبه قوم دې بیمار دی

چه ټوټې ټوټې ملت سره پیوند کا
دا خادم دهغو خلکو خدمتګار دی

د خوبانو صفتو نه راته څه کړې
که پښتون یې خو هغوی هم پښتنې دی

د سپین مخ او سپینو لیچو غم کښې ګیره
د حیات او به ظلماتو کښې پرتې دی

د فراق او د وصال خبرې پریږده
دا خبرې هم وړې دی هم زړې دی

څه پیغام دا مو یو سه تر اټکه
په زړه شوې مې لرغونې افسانې دی

د پښتو او پښتنې د نیا خبرې
که خوږې دې خوله هر څه نه خوږې دی

پښتنې پیغلې زلمی په دې خبر کړه
چه د قام په مخکښې ډیرې اندیښنې دی

پښتو نخوا د عظمت سندرې وایه
ای شاعره د ملت سندرې وایه

دشوروي افغانستان پېژندونکي رسالې نه

لیکونکي: ل دوروفیوا

مترجم: معتمد شنواری

# په شوروی اتحاد کښې

## دپښتو په باره کښې پلټنې

داچه شوریان له پښتو ژبې سره علاقه لری او له ډیر پخوانه د دې ژبې په زده کړه لګیاد ی، د هغو شوروابطو نتیجه ده چه د ډیرې اوږدې مودې راهیسې د افغانستان او شوروی اتحاد پا منځ کښې موجوددی.

دا تلسمې پېړۍ به آخراود نولسمې په سر کښې چه د پښتو په برخه کښې په روسیه کښې کوم نشر یات شوی دی هغه تصادفی نه دی، بلکه د روسیې علمی اکاډیمی فیصله کړی وه چه د پښتو ژبې په باب علمی تحقیق و کړی اوداژبه ترمطالعې لاندی ونیسی، ددې خبری داثبات دپاره همغه د( دورن) دا کاډیمی دغړی مقالې چه دنولسمې پېړۍ په لومړی سر کښې په پښتو لیکل شوې اونشرشوې دی کفایت کوی.

لومړی اثر چه دپښتو ژبې په باره کښې په شوروی اتحادکښې نشر شری دی هغه په اتلسمه پېړۍ کښې د (ګولدنشتدت) اثردی چه په (پیترسبرګ) کښې چاپ شوی و، دا اثروروسته بیا دډیرو مقالوماخذ ګرځیدلی دی او استفادې ورنه شوی دی دالیکنې زمونږ دامد عاچه په شوروی کښې پښتونه لادپخوانه توجه شته ښه تائید وی

رښتیا خبره داده چه (د ورن) پښتو ته ښه خدمت کړی دی، اوارو پاته دپښتوژبې تعلیم او زده کړه داول ځل د باره ده مینځ ته راو ړی ده او د پیتر سبرګ په یو نیو رستی کښې بې دد ې ژبې تعلیم شروع کړ، د(دورن) دمرګ نه وروسته هم دپښتو ژبې رغبت اوشوق په شوروی کښې باقی واود دې ژبې په خصوص کښې یوه مقاله د ګولوس (اواز) په اخبار کښې په ۱۸۸۲ ع کال کښې د(افغانان اودهغوی ژبه) ترعنوان لاندې نشر شوې و اوښه معلومات یې لرل.

دشلم قرن په لومړیوو ختو کښې دوه واړه کتابونه دپښتو ژبې په خصوص کښې نشرشوی وومګر دغواثرونو یوازی علمي جنبه لرله.

په ۱۹۰۷ ع کال کښې ( ایفیموف ) یوه رساله د (افغانی یاپښتو مترجم) په نامه په تاشکند کښې چاپ کړه، دا دپښتوژبې لومړی د رسی کتاب دی چه مینځ ته راغلی دی. په دې کتاب کښې دتصریف جدولونه اوفرهنګی څیړنې شته او ٦۰۰ مستعمل لغات په کښې لیدل کیږی

دکلماتو صحت او دادا طرزبې په ټوله معنی ښه دی، پدې سلسله کښې نور نشریات هم شوی او لا روان دی کیږی .

افغانستان شنا سو شورویانو د پښتوژبې دصرف او نحو تحقیق او موادد انقلاب نه دمخکښې علماوو څخه ډیر لږ په میراث لرلی دی مګر ددې ژبې دصرف او نحو اساس په همغه وخت کښې ایښودل شوی و او همغه یې دعملی تعلیم اوعلمی تحقیق دوره بلل کیږی . البته دموادو لږ والی اود کوم ماخذ نه پیدا کیدل داسې څه دی چه دانقلاب نه دپخوازمانی په تتبع او تحقیق باندې به یې بد اثر کړی وی نو ځکه دپښتو ژبې په خصوص کښې دهغوی نه ډیر څه په میراث نه دی راپاتی .

دانقلاب نه مخکښې روسی پوهانو دافغانستان په ژبو کښې یوازې پښتو ته توجه لرله او هر څه چه وو په همدې باره کښې وو یعنی دافغانستان نورو ځایې ژبو ته کوم التفات نه وو .

دا کتیرد انقلاب نه وروسته زمونږ په مملکت کښې د افغانستان ژبو په باره کښې یو عمیق او پوره تحقیق شروع شو، دعلومو ترقی او دافغانستان او دشوروی اتحاد ترمینځ دتجارتی اقتصادی او کلتوری روابطو پیدا کیدلو زمونږ تحقیق دپاره لاره ښه برابره کړه ، شوروی ژبپوهانو برسیره پر پښتو د افغانستان په نورو ژبو هم ورو ورو او په خپل وار سره پیل وکړ.

د (برتیلس) شوروی ایرانپیژوند ونکی اثار دپښتو ژبې په زده کولو کښې په شوروی اتحاد کښې باید یوه نوې دوره و ګڼله شی ،دغه عالم دپښتو په باره کښې دوه کتابو نه لیکلی او چاپ کړی دی ، یو کتاب یې په کندهاری لهجه لیکل شوی دی . په دې کتاب کښې له هغو کندهاریانو نه چه ستالین ابادته به دتجارت په غرض راتلل استفاده شوې ده. په دې اثر کښې ټول هغه تحقیق چه دپښتو په خصوص کښې په انګریزی ژبه شوی دی راوړل شوی دی .

( برتیلس) دانګلیسی ژبپوهانو هغه تحقیق چه دپښتو په باره کښې یې کړی دی نیمګړی بللی دی او ویلی یې دی چه دانګریزانو په څیړنو کښې لهجې او تفصیل نه شته او ده پخپله د کندهاری لهجې دپاره ځینې تازه ماخذونه او معلومات لاس ته راوړی دی

د برتیلس بل اثرد (پښتوژبې تر کیب) ترعنوان لاندې په ۱۹۳٦ع کال کښې نشرشوی دی . دا یو ډیرمهم کتاب دی چه مؤلف دپښتو ګرامر ټول خصوصیات په کښې درج کړی دی - ددې کتاب په سر لیک کښې مؤلف د افغانستان او دافغانستان دژبې په باره کښې پوره معلومات لیکلی دی- نوموړی مؤلف د پښتو د صرف او نحو خصوصیات دایرانې ژبو له اسلوب سره مقایسه کړی دی، خو په نتیجه کښې یې د پښتو د خصوصیاتو توصیف کړی دی -

بر تیلس د پښتو زده کړې دپاره خلك په ټینګه را بللی دی او په دې کار کښې یې ډیر خدمت کړی او مهم رول یې لو بولی دی.

دېرش کاله وړاندې په شوروی اتحاد کښې دپښتو په باب خاصه علاقه پیدا شوه له نیکه مرغه زمونږ دې دلچسپی دپاره پاکه او خلاصه لاره هغه وخت ښه برابره شوه چه په افغانستان کښې ځینې کلتوری اقدامات وشول.

(یعنی اعلان وشو چه پښتو د دولت ژبه ده - شاهی فرمان صادر شو چه په ټولو موسسو کښې دې پښتو جارې شی - دپښتو داحیا او ترقی دپاره مدنې او علمی تشکیلات مینځ ته راغلل او په مطبوعاتو او مکتبونو کښې د دې ژبې تدریس علمی شو).

په ۱۹۳۵ع کښې برتیلس په ښکاره و لیکل چه هغه وخت نژدې دې چه دپښتو ژبې له زده کړی نه په پرته نه شی کیدای چه دافغانشناسۍ په باب کښې څوك کارو کړی او بریالی شی.

۱۹۳۹ع کال په شوروی اتحاد کښې د پښتو د تحقیق یوه مهمه مرحله او دوره ګڼل کیږی - په دې کال کښې دمسکو د شرق شناسۍ په موسسه کښې (اسلانوف) مشهور افغان پیژندونکی او دپښتو دادبیاتو متخصص د پښتو په تعلیم او تدریس په مرتب او منظم ډول شروع و کړه چه په نتیجه کښې یو ټولی افغان پیژندنکی مینځ ته راغلل او وروزل شول او په همدې کال په نوموړې موسسه کښې یو درسی کتاب (په روسی کښې د پښتو قاموس) او بل (دصرف او نحو لنډیز) داسلانوف له خوا خپاره شول که څه هم د ده دا - کتاب وو ړدی مګر د پښتو دزده کړه او تعلیم په باب ډیر اهمیت لری - په دې درسی کتاب کښې د ګرامر مسایل په مرتب ډول ښودل شوی دی او د ارطباطی تورو استعمال په کښې په مستقل ډول بیان شوی دی - او د (خج) استعمال په کښې دلومړی ځل دپاره زمونږ هیواد کښې مینځ ته راغی. اسلانوف په خپل درسی کتاب کښې دتلفظ او (فونه تیك) مسایل بیان کړی دی او شاګردانو ته سمه لهجه او تلفظ ورښئی. اسلانوف خپل تحقیقات په یوه رساله کښې چه د (پښتو صرف او نحو) نومیږی خلاصه کړی دی - دی خیال لری چه په هغه فرهنګ پورې یې وتړی چه په پښتو او روسی لیکل شوی دی. او س ښاغلی م - ګ اسلانوف دروسی پښتو دصرف او نحو په برابرولو لګیا دی — په دې ګرامر کښې دفعل سیستم په پوره تفصیل سره مطالعه شوی دی - د کلام داجزاو په برخه کښې اسلانوف دپښتو ددواړو شعبو - (کند هار او ننګر هار) خصوصیات څرګند کړی دی. اسلانوف یو ټولګی ځوانان دپښتو ژبې دپاره وروزل او دوی ته یې تعلیم ور کړچه اوس د دغو ځوانانو محققینو شمار پوره ډیر شوی دی. په دې وروستیو کلو کښې دمسکو دا کاډیمی - یو ټولګی ختیځ پیژندونکو معلمانو دپښتو یو سلسله درسی کتابو نه صرف

او نحو نشر کړی دی او داستفا دې د گر ته یې ایستلی د ی - د د وی اصلی مقصد دا د ی چه د عالی مکاتبو د پاره یو مثبت در سی کتاب جوړ کړی او د پوهنځیو په پرو گرامو کښې یې شا مل کړی .

برسیره پەدغو کتابونو څو نور کتابو نه چه د پښتو د نشر نمونې و ښیې، د چاپ څخه راو تلی او د علا قمنو گوتو ته ورغلی دی .

پەه۱۹۵٦ع کښې ښاغلی ( لبیدوف ) د پښتو ژ بې د صرف او نحو د رسی کتاب چاپ کړ چه عام فهم او اسان د ی او گرا مر ی تجز یه یې په علمی اساس ده او ډیر ښکلی مطا لب لری باید وویل شی چه د شوروی ژ بپوهانو تحقیقات د افغانستان په ژ و ندی ژ به ( پښتو ) او د دې ژ بې په ادبیاتو پورې اړه لری لکه چه اسلا نوف په خپلې رسالې ( د پښتو فو کلور ) کښې د ا حقیقت ښکاره کړی دی . دی برسیره په نورو مضامینو ، د ژ بپوهنې په مخصوص طرز کښې ، هم غبز یدلی دی او د پښتو ملی اشعار یې تجز یه او تحلیل کړ ی دی ، او د کند ها ر د لهجې خصوصیات او ( زور کی ) د صوت په خصو ص کښې یې پوره څیړنې کړ ی دی . دا سې یې هم د پښتو په کلمو کښې د ( خج ) ا ثبا ت او طرز پـه ښه تو گه ښو دلی د ی ، او هم یې د ( کو ل ) مصدر یو مستقل بحث په حیث څیړلی دی ، چه په نتیجه کښې د پښتو نه مر کبو ا فعالو کښې تـجد ید نظر را غلی او ډیر حقایق واضح شـوی د ی . د شوروی افغان پېژند ونکو پوهانو په مقالو او تحقیقا تو کښې د پښتو د صر ف او نحو د مسئلـو یو داسې لړ راغلی چه لوید یځې اروپا د پوها نو پـه اثارو کښې نه دی راغـلی او شو ر و ی پوها نو د پښتو فو نه تیك مسایلو تـه تو جه کړ ی ده . خصو صاً ( لیبید وف ) د کلمې د صوتی تغییر په شاو خوا کښې چه تر او سه دا سې پو ره نه دی وا ضح شو ی په یو لـړ تحقیقا تو مشغو ل دی — د ه په خپل علـمی تالیف کښې دا صوتی تغییر د پښتو د صر ف او نحو له لحاظ ډیر مهم ښو دلی دی ښا غلی لبیدوف د پښتو ( اوازوال ) توری د رو سی ژ بې له اوازوالو تورو سره مقایسه کړی دی او نژدې والی یې ښو دلـی دی . تراو سـه د پښتو په گرا مو کښې د فعـل سیستم او څرنگوالی یو څه گران او مبهم و چه ډ یر ځله دا ابهام د پښتو د تعلیم او په دې ژ به کښې د تحقیق مانع کیده . مگر ښاغلی (دورویانکوف) په خپل یو علمی کتاب کښې ( د پښتو ژ بې امدا دی افعال ) ترعنوان لا ندې د ا مضوع واضحه کړې ده . څه وخت وروسته بیا د ده یو اثر ( د فعل اقسام ) میدان ته را ووت په دې تالیف کښې د فعل زمانه ، د فعل صور ت د فعل وضع او مجهول او معلو م فعل ښو دل شوی دی . ښاغلی ( ارانسکی) ځلمی پو هاند په خپل علمی کتات او یوې مقالی کښې خپل

تحقیق یوازې د فعل په وضع پورې منحصر کړی دی — د غربی اروپا ختیځ پیژندونکو لکه ډارمستتر ـ ترومپ ـ گیگر ، گریرسن ، او داسې نورو دا موضوع ځیړلې نه ده او ښو یه ترې تیر شوی دی . مگر دا موضوع د اول ځل دپاره د اسلانوف په علمی کار ونو کښې ذکر شوې ده او وروسته بیانورو پسې ځیړلې ده . اسلانوف لیکی چه د فعل وضع ، د فعل د سیستم د پاره ډیر اهمیت لری . ښاغلی ( ارانسکی ) د خپلې تتبع نه دا اخستنه کوی چه د پښتو فعل د وضع په لحاظ په دوه ډوله دی : مکمل او ناقص . او هم په پښتو کښې استمراری ، او مطلق فعل ته قایل شوی دی او واضح یې لیکلې دی چه (لویدم) استمراری او (ولویدم) مطلق فعل دی ښاغلی ( ایریمیچیوا ) په خپل یو علمی تحقیق کښې د ( فعل په پښتو کښې ) ترعنوان لاندې یو مفصله ایکنه کړې او په دې موضع یې ښه رڼا اچولې ده . د غربی اروپا د مستشرقینو په لیکنو کښې نه یوازې دا چه د پښتو افعالو استعمال په پوره ډول سره واضح شوی نه دی بلکه د فعل د تصریف جدولونه یې هم نیمگړی غوندی دی . څه موده مخکښې ، په پښتو کښې ، د فعل مسئله ډیره مشکله برېښیده . حتی اسلانوف به ویل چه « افغان پیژندونکو تر اوسه دا موضوع نه ده حل کړې » مگر ده په خپله په دې موضوع پوره رڼا اچولې ده او په دې باب کښې یې بیا بیارڼا اچولې ده او ښاغلی ( کالینیا ) هم د ده نظریات د صحت له حیثه تائید کړی دی . ښاغلی اسلانوف د پښتو د فعل صورت په درې ډوله تقسیم کړی دی - لومړی امری صورت ، دویم اخباری صورت ، او دریم شرطی صورت چه په روسی کښې هم دا ترتیب شته . تراوسه د پښتو په صرف او نحو کښې د نحو برخه لږه راغلی — په دې وروستیو وختونو کښې د شوروی ژبوپیژندونکو پوهانو خپله توجه د پښتو د نحو خوا ته په تینگه اړولې ده — باید د ( یاتسیویچ ) تحقیقات په دې خصوص کښې وستایو — . ده پخپل علمی تالیف کښې د کلماتو ترتیب چه په جمله کښې څنگه باید راشی واضح کړی دی او د نورو افغان پیژندونکو پوهانو نوغوندې یې د اموضوع بې اعتنا نه ده پری ایښی .

په شوروی اتحاد کښې برسیره په اوسنۍ پښتو د قدیمی پښتو په خصوص او په تاریخ کښې هم بحثونه شوی دی او پوره تحقیقات په کښې جاری دی — دامعلومه ده چه پخوانی آثار چه نشر شوی اولاس ته راغلی دی ، هغه په څوارلسم اوشپاړسم قرن پورې ارتباط لری — اوداهم څرگنده ده چه هغه پخوانۍ پښتو داوسنۍ پښتو سره د ترتیب او تالیف له حیثه څه فرق نه لری چه دا کار ددې ژبې پوخوالی ثابتوی .

ښاغلی لیفیشیتس په خپل یو کتاب کښې دپښتو په ضمایرو کښې پوره تحقیق کړی دی تاریخی او تحولی اړخونه یې څیړلی دی. دمعاصری اوپخوانۍ ایرانی پارسی سره یې مقایسه کړی او په نتیجه کښې یې داثابته کړی ده چه پښتو او دپامیر او منجان ژبې دجنوبی ساکی له ښاخونه په مستقیم او مستقل ډول راغلی ده او دنوروژبو منځنۍ جزباید و نه ګڼل شی.

شوروی ژبپوهان، دنور وضروری کارونو په جمله کښې، دپښتو دلغاتو دحل په لټون کښې هم دی. دوی په دې باره کښې ډیر کوښښ کړی دی او دلغا تو دحل ټول اړخونه یې په نظر کښې نیولی دی او دامهم کار یې تر یوځایه رسولی دی. په ۱۹٤۵ ع کال کښې ښاغلی اسلانوف یوه مقاله د پښتو په قاموسو نو چه په افغانستا ن کښې له ۱۹۳۸ نه تر ۱۹٤٤ ع چاپ شوی د ه لیکلې ده- ده په دې مقاله کښې دلغت لیکلو ترقی بیان کړی او ځینې انتقادات یې هم کړی دی - دې مقالې دپښتنو ژو ندی ژبې ته د خلکو توجه ور ګرځولې ده ځه موده وروسته یې یوه بله مقاله (په پښتو کښې د ځینو ترکی لغا تو استعما ل) ترعنوان لاندې لیکلې ده — په دې مقاله کښې علمی څیړنې شوی دی او د یوې ژبې دلغا تو د ننو تلو طرزیې په بله ژبه کښې ښودلی دی- ده په دې مقاله کښې دلغت شناسۍ په موضوع کښې خپل معلومات تکمیل کړی دی او دلغا تو دلیکلو له حیثه هم پوره اهمیت لری.

ښاغلی (خالد وف) هم یو اثر (په پښتو کښې عربی لغا تو ا ستعما ل) په دې خصوص کښې لیکلی دی او دا چه له کومه وخته دا کارشوی او څنګه استعمال او څنګه تلفظ یې کیږی په کښې ښودل شوی دی.

ښا غلی زودین یوفر هنګ پښتو په روسی دبر تیلس په اهتمام په ۱۹۵۰ ع کال کښې چاپ کړ دافرهنګ ۱۲ — زره لغات دروسی الفبا په اساس لری. په دې فرهنګ کښې علا وه دلغاتو دحل نه د پښتو کلما تو تلفظ اودخج اشا رې هم شته، او بیا په ۱۹۵۵ ع کا ل کښې یو بل فر هنګ روسی په پښتو هم ښا غلی زودین چاپ کړ چه ۲۱۰۰۰ لغات لری — دافرهنګ یوه دپښتو لنډه ګرامری الحاقیه هم لری چه مختصر او ضروری معلو مات په کښې شته.

اوس اسلا نوف دخپلو څو کلو نو دتتبعاتو په ټولو لګیا دی، او دپښتو لو ی قا موس چه دافغانستان دټولو طبقاتو لغات په کښې دی، تیاروی او اکثر لغتونه یې په جملو کښې دمثال په توګه ښو دل شوی هم دی.

دپور ته ذکر شو یو خبر و نه معلومیږی چه شورویانو دپښتو په باره کښې څومره موفقیتونه لاس ته راوړی دی. حتی په هغه وخت کښې چه په نورو ملکونو کښې لکه انګلستان چه هلته پښتو ته ترټولو لومړی رغبت پیدا شو لا په همغه وخت کښې مونږ ور نه وړاندې او موفق وو. دا معلومه خبره ده چه، په شوروی کښې دپښتو په خصوص کښې څومره ډېر علمی تحقیق شوی او ددې ژبی په زده کړه او تعلیم کښې څومره کوښښ کیږی حتی په عالی مکاتبو کښې دپښتو تعلیم کیږی — دشورویانو دغه موفقیتونه چه دپښتو دزده کړی او دعلمی رنګ ورکولو کښې یې لاس ته وروستی دی، په خارج کښې هم څنګه چه ښایې قدر شوی دی، او خلکو ورباندې تقریظونه لیکلی دی او لکه چه مونږ وینو دا خبره بې مبالغې ده چه څومره د پښتو په خصوص کښې په غرب کښې اثار نشر شوی دی له هغوی نه په کراتو زیات په شوروی کښې لیدل کیږی،

پـــای

---

## تقسیم

څوک لېونی شی — څوک لېونتوب شی
څوک شی په خوب ویده — څوک رنګین خوب شی
څوک احرام وتړی — مخ په قبله شی
څوک جلال و اغوندی — پاکه کعبه شی
څوک مست بورا شی — مسته لولۍ شی
څوک رنګینه، نیاز بینه — د ګل غوټۍ شی
څوک یو د درد تصویر — د غم قیصه شی
څوک یې په مینه مینه — په ننداره شی
یو څو ساعته د رنګ — د خندا تیر شی

آخر تیاره شی
او واړه هېر شی

(غنی)

قدرت الله حداد
لیکنه او ترجمه

# نورخه کېږی ؟؟؟

یوه ورځ یوه وړه رساله لاس ته راغله چه په انګلیسی لیکلې شوې وه، په دغې رسالې کښې یو لړ رسمونه هم شوی واو تر هر رسم لاندې خوکرښې په غټو تورو لیکل شوې وې په لومړی نظر به سړی ګومان کاوه چه دا رساله به د انګلیسی زده کړی له پاره وی زه هم په همدې ګومان وم خو کله چه مې په لوستلو پیل وکړ راته څرګنده شوه چه په خورا روانه اوساده انګلیسی لیکلې شوی مګر مفهوم او مطلب په کښې ډېر پوخ راغلی او دغې وړې رسالې چه ۱۲ پاڼې وې هغه هم ډېره، رسمونو نیولې وه (رسم او مضمون سره نژدې کړتی وو) زه یې ډېره موده بوخت کړم او زما ماغزه یې په کرار نه پرېښوول.

دا رساله د نوی اخلاق له خپرونو څخه وه او په پای کښې یې د پروفیسر فرانک بوخمن لاسلیك و.

داده د دغې رسالې ځینې پښتو ترجمې د کابل مجلی ګرانولو ستونکو ته وړاندی کوم

نورخه کېږی؟

څوڅو زره کاله مخکښې نړی د ټوله یخ نیولې وه، بیا هوا توده شوه د ډېری مهال راغی تر میلاده پنځه زره کاله مخکښې نړی د برونز عصر ته ورسیده وروسته بیا د اوسپنې دور ان شو.

یوازې ۱۸۵ کاله پخوا (جیمز واټ) د بړاس (بخار) قوه وموندله او نړی د صنعت په لاره روانه شوه.

نورخه کېږی؟

اوس د مفکورې (ایدیالوژی) زمانه راغلې ده. د شلمی پېړی د دوهمې نیمایې په سر کښې دادی ۲٫۵۰۰٫۰۰۰٫۰۰۰ وګړی په ټوله نړی کښې هستوګنه لری له دغې جملې څخه نهه نوی په سلو کښې د مفکورې په حقیقت، اغیزه او قوت خبر نه دی.

نورخه کېږی؟

دغه نا خبری هغوته چه پوهیږی یعنې په سلو کښې یوه ته لوی قوت او فوق العاده واکی په لاس ورکوی، تاسې هغه وخت پوهیدای شئ چه په نړی کښې نورخه پېښېږی؟ چه تاسې یوې ایدیالوژی یا مفکورې سره بلدشئ.

د وګړو ماغزه د مفکورې له خوا نیول کېږی بیا دوی هم لکه عادی وسایل کار کوی څونه کار کوې؟ هغو مره کار کوی چه دبیا سوچ کولو مجال نه لری.

مفکوره سړی ته یوه فلسفه یو پلان او یو هیجان ښئی . او بیا په همدغو وسایلو وګړی ولسونه نیول کېږی . اجتماعی حالات بدلون مومی او داسې طاقت خلقوی څو وګړی دغه بدلون اجراء کاندی. ښه یا بد دوی په اخلاقی ذهن پورې اړه لری مګر مفکوره نن قطعی فیصله ده او راتلونکی قطعاً د عالی مفکورې له خوا انحصار شوی .

یو ولس یا هیواد که د توپونو، بمونو په زور و نیول شی سبا بیرته له لاسه وزی مګر که د مفکورې په زور و نیول شی ، پیړۍ پیړۍ بې له وینی تویولو پاتې کېږی .

انسانی کرامت هم دا شی خو ښوی چه استدلال د لاس وسله وی او پرته له دلیله هیڅ تهدید او ډار نه وی .

ټوپك له لاسه وغورځوی د هغه پرځای په سر کښې یوه مفکوره پیدا کړی ، او په خپل زړه کښې یو ځواب وساتی رښتیانی ماته هغه ده چه په ماغز و کښې پېښه شی یعنی حقیقی ماته د عقیدې او فکر ماته ده . او دا زموږ د عصر او مهال جګړه ده او راتلونکی هم د عالی مفکورې په لاس کښې یوې عقیدې ته که تاسې د اهمیت په نظر ونه ګوری هغه عقیده ماته نه کوی یوې عقیدې ته هغه وخت ماته ور کولای شی چه یوه عالی عقیده ولری .

عصری وسله عالی مفکوره ده داتوم او هایدروجن بمونه نړۍ نه شی لاندې کولای د انسانی عالی مفکوره به ټوله نړۍ ونیسی .

څومره به بده ودانۍ جوړه شی که چیری برآور دی او معمار یو بل سره سم ټاکلی ستندردونه (معیارونه) ونه لری . یو معیار دادی : «صادقانه اعتراف ، صادقه اعتذار» او بیا په کار پیل کول. اړتیا او حرص دوه واقعیة دی دوګړو اړتیا پوره کېږی مګر دوګړو حرص پای نه لری نوموږ هم باید خپلې اړتیا ته وګورو نه خپل حرص ته . او زموږ وسیله په دې عصر کښې ښه اخلاق دی او ښه مفکوره . یو وار باید پر خپل اخلاق نوی نظرو کړو او په ښه اخلاق ځانونه مجهز کړو. دا یوازی یو صادقه اعتراف غواړی راتلونکی ستاسو په لاس کښې دی .

(پای)

## ویش

باغ کښې څوك ګلاب شی څوك شی سروې څوك ورخاړی
څوك د مینځ غنچه شی څوك کسبل د غاړې غاړې
تاج د چا د زرو د چا تاج شی د غمو نو
ویش د بل په لاس وی که ته خاندې او که ژاړې

غنی

غوث خیبری

انعکاسات

# د «پښتو» افسانی په هکله

د پښتو ټولنې محترمه مشر ګل پاچا الفت صاحب !

دادریم واردی چه زه د یو مهم حقیقت توضیح کومه او مطلب مې دادی چه یوه ډیره لویه او غټه اشتباه او سهوه اصلاح شی خو نه پوهیږمه چه بیاولی هغه تاثیر نه کوی په ښو غټو تورو او روښانو کرښو په پاکه او روانه پښتو په درنی مجله (کابل) کښې هغه خپره شی او..... یره خو عجبه زمانه ده..

الفت صاحب تاسی ته به یادوی چه کال د وه مخکښې خو زمایو وړو کی کتاب د «اور لمبې» په نامه چاپ او خپور کړ (هم په مجله کښې او هم په مستقل ډول) چه په دې کتاب تاسې خپله هم یوه وړه شانې سریزه لیکلی.. دا یوه تاریخی افسانه ده چه ما په کښې د انګریزانو ماتی او شکست ښودلی او ددې له پاره چه د افغانی کوچنیانو، نر، ښځو، وړو، زړو، خپلو، پردو په ذهن کښې دا حقیقت ښه ځای ونیسی نو دیو افسانه نګار په حیث مې هغې پیښی ته (د ډاکتر برائیډن رسیدل جلال آباد ته ....د هغه نو کر.....د ژرندی شپه، خالد-زرینه، تورګل د هغه وژل، جانسن د تورګل پلار، د هغه خبرې او داسې نور) یو افسانوی رنګ ور کړ.

د «اور لمبی» کتاب د سر نه تر پایه پورې دیو ځنځیر کړی دی بیل او جدا مطلب په کښې نشته خو د کتاب د خپریدو نه څه موده پس د پیښور د درنې مجلی «ننګیالی» په یوه پاڼه کښې ما د خپل کتاب یوه ډیره وړه برخه (د خالد او زرینی په لاس د جانسن ګرفتاری د تورګل په لاس د خالد د پلار قتل او د تورګل مجازات الخ) د ترجمې په نوم ولوستل چه نوم یې پرې «پښتو» ایښی و.

لومړی خو مې زیات تعجب وکړ چه دا «څنګه چل دی» کوم نومونه ټکی کلمات حتی عبارات چه تا د دماغ نه را بهر کړل او د یو کتاب په شکل دې خپاره کړل هغه اوس عیناً د ترجمې په نوم خپریږی.

بیا مې زړه ته راغلل چه ځه هلکه دا به سهوه شوی وی «ننګیالی» به ستا د کتاب یو فصل نقل کړی وی خو چه چاپ ته ورغلی وی د «خیبری» د نومو په ځای به پرې د هغه بل ملګری (۱) نوم د ترجمې سره چاپ شوی وی بیا راسره ویره راپیدا شوه چه سړیه څوک په تا دا ګمان ونکړی چه تا ګینی د اور لمبی او یا د ننګیالی برخه غلا کړی او په خپل نوم دې چاپ کړې نو ځکه مې یوه پوره شرح ولیکله او هغه بیا ستاسی په ملاحظه په کابل مجله کښې خپره شوه ... د هغه غټ عنوان داو.

«اشرف درانی که خیبری ؟؟!!»

(۱) اشرف درانی د ننګیالی چلوونکی

هغې مقاله کښې ماد دې حقیقت توضیح په ښه شان سره کړی وچه د ننګیالی «پښتو» افسانه ترجمه نده بلکه هغه د اوردلمبو یو فصل دی او که نه هغه اصل اثر یا منبع دی د کوم نه چه د ننګیالی افسانه ترجمه شویده راوښودل شی.

ما په هغه یادداشت کښې د اتوضیح ورکړی وه چه نه خو په هغه ځای کښې زرینه وه نه خالد، نه د خالد پلار چیرته تور ګل وژلی و او نه خپله تور ګل چیرته و.... همداشان نوره برخه هم ...

سره د دې چه ز ماهغه لیکنه په کابل مجله کښې خپره شوه خو..... الفت صاحب د مطلب ته کی خواوس دادی چه هماغه د اوردلمبو د کتاب یوه برخه چه په ننګیالی کښې د «پښتو» په نوم نشر شوې وه د غنچې په (شماره لمبر ۱۳ جلد ۳) د اشرف درانی په نوم د ننګیالی نه اقتباس شوی ده خو داوار ورسره د ترجمې لفظ نشته او اثر ښودل شویدی.

اوس خو نور اسره د ځان ویره را پیدا شوه سباخوك بل د «خیبری» په نوم را پیدا نشی او دا و نه وایی چه «خیبری» په نامه لس جلده کتابه او زیاتی مقالی زما اثر دی نو ځکه مې د اشو کر ښې تاسی ته ولیکلی او هیله ده د کابل په درنه مجله کښې ښې خپرې کړی.

دا کار خو به تاسې ځکه کوی چه یو خو داور لمبې تاسی په خپله مجله کښې خپور کړی او بل خو هغه کتاب ستاسی دا کاڼی چاپ دی دا دویم وار دی چه زه عرض کوم

د «ننګیالی» پښتو افسانه زما د کتاب یو ه برخه ده چه خیالات تصور او هر څه یې زما دی. نه ترجمه ده او نه اقتباس ....

د «غنچی» هغه اقتباس هم هماغه شی دی او د بل چا اثر ندی.. خالد زرینه، تور کل، د تور ګل پلار د جانسن پیښه په هغه شان چه افسانه کښې راغلی جرګه د خالد د پلار وژل او د تور ګل غیرت او نور ټول زما خیال تصور او قلم دی که څوك پرې د ترجمی نوم زدی یا بې څوك په خپل نامه خپروی غلا او سرقت دی وګڼل شی.

په درناوی غ غوث خیبری.

---

## د دنیا قانون

یوه ورځې سحر ووې په خندا کښې
دا قانون مدام جاری دی په دنیا کښې
چه ضعیف د زور ور خوا کښې ور کیږی
اکه ور که چه سپوږمۍ شوه دلمر خوا کښې

الفت

ایکو نکی :م علم «نا خدا»

# زمونږ د اخلاقو نوی بنسټ

دعلومو پر مختګ روښانه کړی ده، چه دتغییر او تکامل پر نسیب پر ټولو اجتماعی اوطبیعی حادثاتو تطبیق مومی موجودات په جهان نشته یا اصلا موجود کیدای نه شی، مګر دا چه دغه اصل په هغوی تطبیق نه شی په دې اساس ذکر شوی اصل یوابدی قانون دی چه په هرڅیز کښې شامل دی یعنی دا چه کوم شی وکولای شی چه په دې ابدی قانون کښې رانه شی موجود نه دی شاید زیاته به شی که ووایم

هغه تغییر ونه چه په موجوداتو کښې پیښیږی په یوه حالت نه وی بلکه ورو ورو ټول موجودات تحول کوی دهرې حادثې په تحول کښې دوه حالته چه دهغې حادثې ذاتی خاصیت ګڼل کیږی لیدلای شو اومړی حالت (سکون) دی چه نسبی مګر موقتی دی دوهم حالت یې (تغییر) دی چه مطلق بلل شوی پټه نه ده چه له دې دوو حالاتو څخه هر حالت دمتضادو عنصرو د شخړې مصول او په خپله موجوداتو کښې شته دی چه دهغوی د متقابلو مبارزو د کیفیت په اثر داحالت ښکاره کیږی هر موجود چه په لومړی حالت کښې وی دهغه د ظاهرې سکون سره دوخت په تیریدو سره لږ کمی تحولات په کښې ښکاره کیږی خو هغه وخت چه مهال پرې تیرشی دموجودو عناصرو تعادل او اتحاد بل ډول کیږی او په نتیجه کښې کیفی تغییرات په کښې پیښیږی.

کوم وخت چه یوه ټولنه داقتصادی عواملو په اثر له یوې تاریخې دورې څخه بلې ته ننوځی لکه فؤدالیزم چه په سرمایه داری کښې ننوت په لومړی مرحله کښې یواځې هماغه لږ تغییرات په کښې ښکاره کیږی، خو وروسته دافرادو ټولې رابطې او دقبلو لووړ ارزښتونه په هغه ټولنه کښې له مینځه ځی او ځانله نوې څېره غوره کوی.

افغانی ټولنې دنورو جوامعو په څېر تغییرات لیدلی او دتکامل مختلفې دورې یې جبراً تیرې کړی دی دسکون (نسبی) او تغییر (مطلق) دحالاتو په تیرولو یې هر ګام دپرمختګ په لور اخیستی او اخلی یې په تیره بیانن دغه بدلون دخارجی او داخلی عواملو په اثر له پخوانه زیات روښانه دی زمونږ جامعه اوس په هغه حالت کښې ده کوم چه دیولړ تغییراتو له امله چه زمونږ دژوند په مادی حالت کښې پیښ شوی او وروسته به یې هم پیښ کړی دقضاوت طرز او فکری اصولو چه کلونه کلونه ور سره روږدی وو نورنو خپل هغه پخوانی حالت له لاسه ور کړی دی او مونږ نه شو کولی چه نورنو اوسنی حوادث په هغو زړو او قدیمی فکری اصولو څرنګه چه له ننني انسان سره ښایې

یعنی له هغه انسان سره چه دژوند انه له نو یو شرایطو سره مخامخ دی حل کړوله دې محدودې اووړې دنیا څخه چه لر وبې وځو.

پخوانی کړه وړه او زاړه دودونه له دینی سیاسی او نورو عواملو سره یو ځای شوی او زمونږ داخلاقی بنیاد کړه وړه او اخلاقی افکار او ارزښتونه تشکیلوی یعنی تر اوسه زمونږ اخلاقی کړه وړه د اخلاقو په خارجی قانون ولاړ وو ذکر شوی قانون اخلاقی سلوک د هغه زور ورقوت د اوامرو مولود ګڼی چه افراد جبراً هغه نه تابع کیږی نه دا چه په خپل واک یې د هغه د صحت او حقانیت درک کړی وی او بیا یې ور ته غاړه ایښې وی (۱) د دغه قانون په مقابل کښی د پوهانو یو ه بله دله راولاړه شوې او د ذاتی قانون په نامه یې بل قانون ایستلی چه د هغه په مطابق د فرد د اخلاقی سلوک اصل د شخص ذاتی افکار او تمایلات ګڼل کیږی چه په خپله په فرد کښې پیدا کیږی (۲) بر سیره په دغو قوانینو چه وویل شوه د فطرت او عقل سلوک او نور ټول هر یو د اخلاقی عواملو په بیان او د اخلاقو او اخلاقی کړو وړو په ظهور کښې بیانونه لری چه د هغو یادونې زمونږ خبره پسې اوږدوی.

یوازې کوم شی باید ویې وایو دادی چه عقلی او تجربی روش نظر نورو ته د مسائلو او اخلاقی کړو د بنیاد په توجیه کښې هغه اصول په کار وی کوم چه له علمی موازینو سره سمون خوری.

(جان لاک) انګلیسی پوهاند او د تجربې روش مشر عقیده لری.

په اخلاقی مسائلو کښې عامې قاعدې نشته چه د عقل له فطرت څخه صادر شوی وی له دې امله په عقلی مسائلو کښې نشی کیدای چه دا سی عالی احکام پیدا شی چه ټولو ته سم او صحیح وی.

وروسته پسې زیاتوی:

په اخلاقی قضیو کښې د وحشی ملتونو افکار کټ مټ لکه د متمدنو ملتو په څیر نه دی (۳).

د نوموړی پوهاند په عقیده ټولنه سیاست او دین د اخلاقو په جوړښت کښې ډیر اثر لری لکه څنګه چه پورته هم وویل شوه زمونږ جامعه نن د بدلون په حالت کښې ده او په نتیجه کښې اخلاق د قضاوت طرز او په پای کښې زمونږ ټول ارزښتونه د کیفی نمود په حیث اوریدونکی دی

زمونږ نړۍ نوی کیږی او مونږ مجبور یو چه د هغې ټولې اغیزې ومنو په بل عبارت په دغې نوې دنیا او د هغې په تازه شرایطو کښې باید ځان نوی غوښتونکی په ځان متکی ازاد او مسئول وګڼونو د هرې حادثې او هر شی د سم او صحیح ارزښتو د میندلو له پاره لازمه ده چه زمونږ نوی اخلاق په هغه بنسټ ولاړ وی کوم چه وکولای شی زمونږ د نوی ژوندله مقتضیانو او شرایطو سره سمون وخوری تر څو مونږ له ننني مدنیت څخه چه مونږه نوی په کښې ننو ځو یو اځې ظاهری بڼه یې وانه خلو بلکه له معنوی کیفیت نه یې لاښه استفاده وکړو له دې امله باید زمونږ نوی اخلاق او نوی ارزښتونه په دغه لاندنی پرنسیپ ولاړ وی او هغه په اوسنیو شرایطو کښې د هر وطن پالونکی نروی که ښځه شعار وی یعنی «د تشخیص قدرت او د کړو همت ولرو»

(۱) ـ مقدمه بر فلسفه (۲۷۵) مخ
(۲) ـ مقدمه بر فلسفه (۲۷۵) مخ
(۳) ـ مقدمه بر فلسفه (۲۷۸) مخ

ماخذ : هغه فکر چه نړۍ یې ولړزوله

د باندینو پوهانو نظریات

محترم : محمد ظاهر افق

# د تدریجي تکامل نظریه

نن ورځ ټول هغه خلك چه و طبیعي قوانینو ته یې غاړه ایښې ده تدریجي تکامل هم په لوی زړه او پراخ تندی منی - په دې ښه پوهیږی چه تدریجي تکامل یعنی څه ؟؟

انګریز ( چارلس ډاروین ) چه د نولسمې پیړۍ په منځ کښې خپلی خوارۍ او دربدرې یوووړ - د تدریجي تا کامل سودا یې په سر کښې وه - او د دغه حقیقت د تثبیت د پاره یې دومره زحمتونه یوړه څو چه یې کولای شوای . ډاروین وویل : (( اوله بیزو که پسې وڅیړله شی هغه دجیلی (۱) څخه پیدا شویده )) پر دغه اساس باندې ډاروین یو کتاب و کیښ چه نوم یې بنیادالانواع THE ORIGIN OF SPECIES دی . په دې کتاب کښې یې داخبره ثابته کړی وه چه دغه په میلیونو - میلیونو مختلف شکلونه دیوه تدریجي تکامل په نتیجه کښې رارسیږی البته چه دې تدریجي تکامل په سوو نه په زرونه په میلیونو - میلیونو کلونه غوښتی دی . ده دا ښکاره کړه چه هر قسم ژوندی حیوان دخپل ژوند دبقا دپاره ددښمنانو سره - دافتو په مقابل کښې د غذا په حاصلولو کښې په یوه سخته مجادله اخته دی چه انسان هم د دغو ډولو څخه یو حیوان دی او د دغسې کشمکش په نتیجه کښې راپاڅیدلی دی . تر (ډاروین ) د مخه تدریجي تکامل نظریه په اروپا کښې یوه خورا تاریکه او مړژواندې نظریه وه چه ګواکی هیچا په علمی ساحه کښې لاس نه دی و روړی - مګر زوړ والی یې د یونان په فلسفه کښې لا دورایه ښکاره دی . هر څونه چه په یو یان کښې ددې نظریې بازار تودوو په هغه اندازه بیا منځنیو پیړیو دا نظریه په مځکه چخ کړه تر هغه وخته پورې چه اروپا د نهضت په خوار اروانیږی ددې نظر یې لا یې چانه دی را پورته کړی . مګر هغه وخت چه اروپا د بیا ژوند د پاره اساسات جوړ کړه - نومړی نظریه هم د ( لامارك) (جویت) - او (ار اسم ډاروین ) له خوا د مرګه راوګرځیده او هر یوه څه نه څه پرې وویل . ( جویت ) چه یو ساینس پوه وشعر یې هم وایه . دا یې وویل چه تدریجي تکامل یو حقیقت دی . د ډاروین نیکه ( ار اسم ډاروین ) دا خبره و کړه چه موجودات دیوه تدریجي تکامل رخوار وان دی . ( لامارك ) هم چه په فرانسه کښې یوه نامی ( زولو جیسټ ) تیرشویدی د نومړی نظریې

(۱) یو وحید الحجروی حیوان دی .

د حقیقت په باره کښې یې په کال (۱۸۰۹) یو کتاب و کیښ چه د ده علمی قدرت هم ښه په کښې څرګند دی. موږ ته دا معلومه شوه چه د نولسمې پیړۍ تر شروع پوری د دې نظر یې په تثبیت کښې چا لاس پښې نه دی وهلی څو چه (داروین)، (ویلاس) او (هکسلی) د دې نظر یې د ژوندی کولو د پاره ډیر زحمتونه وګالل. هغه وخت چه (ډاروین) دا وویل: ((موجودات یو تدریجی تکامل منی او یو دم نه دی پیدا شوی)) نو د کلیسا خاوندانو عملاً د ده په مخالفت لاس پورې کړ او دا یې وویل: «چه هر څه یو دم او غونډ منډ پیدا شویدی، ځکه په انجیل کښې یې راوړی دی چه نباتات، حیوانات او انسانان ټول شپږ زره کاله پخوا د شپږو ورځو په موده کښې پیدا شویدی» دلته چه کلیساوی په دې درب و دروب اخته دی دا کسفورډ او کمبریج مکتبو هم د دوی ملاتړ کاوه او نوی فکر یې ښه نه باله - نو پوهانو چه به د بشرې ژوند د پاره تازه لارې خلاصولې هغوی به تهدیدل زیریدل به او منحل کیدل به - خو بیا هم سره د دې ټول ټینګاره حقیقی خلك او عالمان کامیابه شوه او کامیابه دی.

تر (۱۸۷۸) پورې په ټولو مدرسو کښې نوی تعلیم منع وو او کلیسا ډیر اخ وډب لاره د مثبتو علمو د پاره یې چندان توجه نه درلوده - دا خبره یوازې په انګلستان کښې نه وه بلکه په ټوله اروپا کښې دا تیاره خپره وه.

په کال (۱۸۷۷) کښې د پروس د تدریس آمر د خپلو مدرسو څخه د تدریجی تکامل موضوع وغور ځوله او په سخته کرکه یې ورته وکتل. هغه وخت چه عالمانو وویل: «موږ په غرو او د بحر په طبقو کښې حیوانی فوسیلونه چه خو راز اړه دی پیدا کړیدی» نو کلیسا دستی په دستی داسې ور تردید کړه: «چه هغه فوسیلونه هم د هغو حیوانا تو دی چه شپږ زره کاله پخوا په پنځمه ورځ کښې پیدا شوی دی».

بلې ډلې یې داسې وویل. «دا فوسیلونه چه اوس یې تاسې یادوی، قصداً په غرو او غارو کښې ایښودشوی ځکه چه د نولسمې پیړۍ د خلکو وفا او بی وفایی پرې معلومیږی» د نوی او زاړه فکر مجادله تر هغه وخته پورې روانه وه څو چه نوی فکر په مطلقه کامیابۍ ځنې را تیر شو. (ډاروین) په خپله زمانه کښې په عیسوی مذهب څه نه دی ویلی، او د سیاست په مقتضایې صرف د ساینس په ساحه کښې د یوه عالم کار کاوه څه چه به یې ثابتول په هغه کښې یې بیره نه درلوده.

ډاروین چه لاد ۲۳ کالو وو په کال (۱۸۳۱) د خپلو تجربو او معلوماتو د پاره دریابو او بحرو ته ولاړ چه د بحرو رسوبی طبقې - د غرو لمنې او نور څه وګوری - نوی علم راوباسی او نوې

لار خلاصه کړی — هغه وو چه په باتونی زولوجی او جیالوجی کښې یې ډیرې څیړنې وکړې او د ډیرو پوهانو کتابونه او بیانونه یې وکتل چه په هغو کښې د (ملټن) بیانونو او د (الیلی) جیالوجیکی قوانینو خوراښه کومك ور سره وکړ او دا ځکه چه د غه کتابونه یې له ځانه سره وړی هم وو.

ډاروین تقریباً (۳۰) کاله زحمتونه وایستل مشاهدې او تجربې یې ډیرې وکړې سړې تودې، لوږې او تندې یې ډیرې تیرې کړې څو چه وروسته له خپل اوږده. سفر څخه راوګرځید او ټول نوټونه یې سره یو ځای کړه چه د (بنیاد الانواع) کتاب یې (مخ کښې یا د شویدی) ځنې جوړ کړ.

(چارلس ډاروین، په خپل فن کښې خورا د سړې سینې خاوند وو هر کار یې په خوراتمکین سره پای ته رساوه، وایې چه یو وخت یې د تجربې د پاره په مځکه کښې اهاك واچول غوښتل یې چه معلومه کړی د غه اهاك پر د غه مځکه باندې پس له (۳۰) کالو په څنګه خاوره بدلیږی. په رښتیا یې هم د نوموړې تجربې د پاره (۳۰) کاله انتظار ویوست او بیا په خپل مقصد ورسیده.

(ډاروین) لږ تر لږه (۱۵) کاله د اقیانوس په جزیرو او طبقو کښې وګرځیده، د هغه ځای په جزیرو کښې یې دا معلومه کړه چه ټول نباتات او حیوانات د مخصوصو شرطو په لمن کښې را بدل شویدی او بدلیږی.

مخ کښې مو وویل چه ډاروین پر تجربو سربیره مطالعې هم کولې او کتابونه یې ډیر کتل چه په د غه ترڅ کښې د (مالټوس) پر یوه نامتو کتاب چه «نفوس» نومیږی پیښ شو هغه لیکلی وچه: «یو وخت به انسانان دومره ډیروی چه مړیدای به نشی».

(ډاروین) دا خبره غلطه وبلله او ویې ویل: «د موجوداتو کشمکش یو طبیعی حرکت دی چه د غه حرکت تدریجي تکامل مینځ ته راوړی هغه حیوانان چه پیدا کیږی د هغه محیط تابع وی او د هغه محیط سره یې توافق وی چیرې چه دوی پیدا کیږی. ټول حیوانان چه پخپل محیط کښې پیدا کیږی د خپل راتګ په وخت کښې له ځانه سره ځینې فزیکی خصوصیات را وړی کوم چه د وی محفوظ ساتی، غذا یې ور کوی او مجادله ورته کوی.»

هغه وخت چه (ډاروین) خپل کتاب خپور کړ پس له لږ وخته څخه د (ویلاس) له خواهم یو کتاب د (دژوند کشمکش) په نامه چاپ شو (ډاروین) چه وکته نو یې وویل چه: «زما او د (ویلاس) کتابونه ډیر ډیر ځای شباهت لری ګواکی یو غرض مو په مخه پسې را اخستی دی.» اوس چه (ویلاس) هم خپل ځان د (ډاروین) ملګری کړنو د کلیسا واکمنو سخت مخالفت

شروع کړ. دلته نوخورابد اړو د وړ پیښ شو، دوی لا په د غه اخ وډب اخته وچه (هکسلی) هم خپل ځان میدا ن ته وا یست او بیانونه یې خپاره کړه ،اوس نود کلیسا خلکو په ځانو ښه غاښونه ولګول او په سرو یې خاورې باد کړی ځکه چه مقاومت یې نه شوای کولی .

(هکسلی) دخپل انقلا بې طاقت سره سم نو ی تبلیغا ت شروع کړه ، نو ی بیا نونـه او کنفرانسونه یې ورکړه تردې اندازې پورې کامیا به ووچه راسا به یې د خلکو سره ددې حقیقت په باره کښې خبر ې کولې څوچه یوه و رځ نژد ې وه له پا پ سره ټکروخو ری . دخپل قوی سیاست لـه ا ملـه یې ځا ن ځینـی و ژغوره .

ددې نوی فکر اوپاپانواخ وډب لانه ووسوړ شوی که ګوری چه (ډاروین ) خپل بل کتاب میدان ته کړ

دداسې کتابو مخالفین دمخه لاستړی شوی وو اومقاومت یې نه شوای کولای . اوس نوښه له وا که ولویدل اوددې خبرو دمخالفت څخه یې لاس و کیښ، چه ګوا کی ددغه کامیابۍ څخه راپه د ېخوا د تکا مل د نظری کامیابه تاریخ همرا شروع شو.

تر( ډاروین) وروسته نور منور خلك پیدا شول اوداحقیقت یې پسې وپا له انکشاف یې ور که. دانسان په باره کښې علمونه ډیر شوه، ا جتما عیات ، انترو ګرافی په بیا لوجی کښې انا ټومې ا وز ولوجی د ساینس نو ی ښا خونه میدان ته راغله .

داخبره لازمه ده چه ووایو: (تر ډاروین) را وروسته ډ یروپوها نو د تد ریجې تکا مل پـه انکشاف او زیات وضا حت کښې کوښښونـه کړیدی خو بیاهم دد ې فخر تا ج د (ډاروین ) پرسر پروت دی .

دډاروین خبره ده :

«دغه سیاره چه موږ پرې ګرځود جاذ بوی قانون له مخې پرلمر ګرځی اورا ګرځی نوددې سیا رې د ژوند څخه وروسته چـه نبا تات او حیوانات پیداشوه بیانو ددوی دتکامل په نتیجه کښې انسانان ځنې راپیداشوه ،البته چه دهغه وخته څخه بیا ترا وسه پورې خورا ډول ډول شکلونه دخپل محیط په غیبز کښې پیداشویدی چه وروسته به هم دتکامل له مخی ا ومحیطی قانون درویه بیل شکلونه وزیږی.»

﴿ چارلس ډاروین ﴾

له انګلیسی منابعو څخه :

د عزیزالله (پښتون مل) ترجمه :

دجوزف اد یسن اثر

# دلیکلو او ګړیدو په باب کښې

زماور ځنی لیکنی کومې به چه ماور ځپانړو ته ورکو لې، ځینې یې داسې لیکنې وی چه به منظم او متودیك ډول لیکلې شوی وې او ځینی یې داسې وې چه بې له دې چه خپل ځان په تکلیف کښې واچوم په خپل سر لیکلې شوې وې، یا په بله ژبه په آسا سی او بنیا دی ډول نه وې لیکلې شوې چه دغو ته به مامقا لې و یلې.

او مړ ی ډول لیکنې هغه لیکنې وې چه ما به پخوا له دې چه څه ولیکم او قلم او کا غذ راواخلم، نو ما به په خپل ذهن کښې یوه پوره او منظمه نقشه ترتیب کړ ه او دنو موړې نقشې عنصر زما هغه فکرونه وو کوم چه به زما په ذهن کښې راغونډ شوې وو، او د ترتیب شوې نقشې له مخې به ما دا فکرونه په لازمو ځایو کښې په آساسی او بنیادی ډول سره د قلم په ژبه د کاغذ پر مخ بیانول، یا په بله ژبه: نو موړې لیکنی به څه د معنا په لحاظ او څه د لیکلو په لحاظ یو ترتیب درلود.

دوهم ډول لیکنې هغه لیکنې وې چه ما به په دې کفایت کاوه چه د مضمون په لیکلو کښې به مې له ډ یر و فکرو څخه کار آخست بې له دې چه د نو موړو فکرو په ترتیبولو کښې ځا ن په زحمت کښې واچوم، چه د یوه فکر له بل څخه فرق وشی او خلکو ته یو ترتیب شوی شهکار و بر ېښی.

د لومړی ډول لیکنو نمونې د (تولی) او (اریسټاټل) او د دوهم ډول لیکنو نمونې د (سینیکا) او (نټیګن) په رسا لو کښې موجود ې دی.

لکه چه زه د کوم نابغه لیکنه ترمطا لعې لاند ې نیسم نو که دده دا لیکنه کوم تر تیب او متودونه لری، نو زه خپل ځان داسې حس کوم لکه په یوه ګڼ ځنګله کښې یم او ښکته پورته ډول ډول ښکلې ونې ولاړې وې، بې ترتیبه او ګډې وډې وې چه له سړی څخه خپل ځان په کښې ور کیږی نو د نو موړی قلمی ښکلا وې هم په همد ې ډول وی.

او لکه چه بیا داسې لیکنه لولم چه د هغې آساس او بنیاد سم وی، نو زه خپل ځان داسې حس کوم لکه چه په یو ه ښکلی بڼ ور ګډ شم چه سر کو نه، د پلیو لار ې او دو نو او ګلا نو د کښېنولو ترتیب یې برابر وی او سړی په ښه ډ ول سره ښکته پورته په کښې وګرځی، نو دا ډول لیکنه هم د دې ښکلی بڼ مثال لری چه هر څه یې په ترتیب سره وی او سړی ته د لوستلو او مقصد اخستلو به وخت کښې کوم تکلیف نه پېښوی.

یا په بله ژبه: په لومړی ډول کښې که تاسې ټوله ورځ وګرځی، البته چه په هر قدم کښې به ډول ډول نوی شیان پیدا کوی خو کله چه تر ینه وځی

اوله ګرځېد وشخه بې فارغ شيء، نو کومه پوهه او تصور چه تا سې په خپل دماغ کښې ورشخه اخلې يوه ناقصه او مغشوشه پوهه به وی او ژر به موله ذهن شخه ووځيء.

اوله دوهم ډول شخه چه اساسی بنيادلری، نو ستاسو دليد لوفوه به يوه منظمه نقشه ستاسو دماغ ته سپاری چه په اسانه سره به ستاسو له ذهن شخه نه وځی.

بې نظمی او بې ترتيبی يوازې دهغو اشخاصو په ليکنو کښې چه دوی دعالی لوستو خاوندان وی، يا په بله ژبه: له علمه ډک وی دومره فرق نه لری، ځکه چه دوی خپل ځانونه مجبور نه ګڼی چه دليکلو ترتيب مراعات کړی، ځکه چه دوی له خپله ځانه يو متودطرح کوی اوله خپلو قلمی ملغلر وشخه دلو ستو نکو په مخ کښې دلی جوړوی چه هغوی خپله ضروری استفاده ورشخه وکړای شی.

البته چه ددې ډول ليکنې اساس او بنياد لوستونکی ته نوی ښکاری او پوهېدل پرې تريوې اندازې دقت غواړی.

مېتودد ليکونکی او لوستونکی دواړو له پاره په کار دی خصوصاً دليکونکی له پاره چه خپل تتبع د قلم په څوکه بيا نوی ډير ضروری دی.

لکه چه کوم ليکونکی د خپلې څېړنې په هکله څه ليکی، هغه بايد داسې ونه کړی چه ټول معلومات کوم چه د ده په ليکنه متعلق وی له خپل دماغ شخه راوباسی، بلکه دنور وليکونکو له اثارو شخه دې هم استفاده وکړی، او ترې يوه منظم او ترتيب لاندې دی راولی.

دلو مړی ليکونکی به داکار لا ډېر ښه وی کوم چه دی د نورو ليکوالو او پوهانو له پيچلو او مبهمو افکارو شخه استفاده کوی او دهغوی دمغلق افکارو معناوې په خپل صحيح فکر سره روښانه کړی او يو پربل پسی يې په يوه منظمه لار تعقيب کړی.

داکار به له دې ښه وی، چه دی يې ګډ وډ وليکلی او د يوې جملې معنا په بله کښې ننوتی او ورکه وی او ځوک يې په سر او بر پوه نه شی البته چه په داسې ليکنه کښې به لوستونکی هميشه متحير او دناپوهی په حال کښې درپچاړ وی.

نو هر کله چه افکار د قلم په ژبه په اساسی او بنيادی ډول بيان شی، هر فکر ځانله يوه عجيبه ښکلا ښکاره کوی لکه چه په يوه ښکلی منظره کښې عکاسی شوې قواري بېلی بېلی خپل ښايست ښېی او د ليدونکی توجه ډېروی.

په کومه اندازه کټه او معلومات چه په يوه اساسی او بنيادی ليکنه کښې وی په هغه اندازه سره وی چه ليکونکی ليکلی وی، او لوستونکی

یې هم په همغه اندازه سره په ډیره اسانۍ او خوښۍ سره ور څخه اخلی، او په خپل ذهن کښې یې ساتی، او ژر یې له ذهن څخه نه وځی. اما په بی ترتیبه لیکنه کښې که څه هم معلومات ډیر وی، خولو ستونکی یې په پوره ډول سره ور څخه نه شی اختسلی او نه یې تر ډیرې مودې پورې په ذهن کښې ساتلی شی.

نو څرنگه چه په لیکلو کښې متود لازم دی، په همدې ډول په ورځنیو خبرو کښې هم لازم دی.

په دې اساس کوم سړی که غواړی چه خبرې وکړی، لومړی باید دی دخپل فکر د ښکاره کولو له پاره ځان ښه پوه کړی چه څرنگه باید خبرې وکړم او په څه ډول سره خپل مقصد ادا کړم.

زه هره ورځ له خپلو وطن والو څخه دچای په خونو کښې په زرگونو مباحثی اورم، او د دوی دخبرو داساس او بنیاد دنشته والی په هکله ډیر حساس یم، چه ولې دوی خپل افکار دخبرو په قالب کښی تر یوه نظم او ترتیب لاندې نه بیانوی.

دامباحثې که سیاسی او یا اجتماعی وی، په لسو کښی به هم داسې مباحثه پیدا نه کړی چه وروسته له دوو یا درې جملو څخه په نورو غیره خبرو او دلایلو چه هیڅ تعلق ور سره نه لری نیمگړی ور که نه شی دامباحثه کوونکی ماته داو بوهغه کب چه (کټل فش) ورته وایې را په زړه کوی لکه چه نو موړی کب دځان له پاره کوم خطر حس کړی او په ښه توگه سره دځان خلاصون ونه وینی، نو سمدلاسه دخپلې لکۍ په واسطه او به خړې کړی او ځان په کښې ورک کړی. نو دوی دیوی مباحثی په شروع کښې وروسته له دوه درې جملو څخه اصلی مقصد دغیره او ډیرو خبرو په گډون ورک کړی.

یا په بله ژبه: مقصد یو شی وی او دوی بل شی ثبوتوی کوم سړی چه په دې نه پوهیږی چه څرنگه خپل مقصد او فکر په اساسی او بنیادی ډول سره بیان کړی، نو دوی دا جمله له عبثیاتو څخه را اخلی او وایې میوه په ډیرو پانو کښې ورکه وی نو په همدې اساس دوی وایې چه دیوه فکر ظاهر ول هم په ډیرې لفاظۍ سره کیږی نه دا چه مستقیما سړې پرې پوه شی. اما دې ته ملتفت نه وی چه په ډیرو خبرو کښې اصلی مقصد له منځه ځی.

(ټام پزل) په دې ډول خلکو کښې یو ډیر مشهوره بې متوده مباحث دی که څه هم (ټام پزل) په کافی اندازه سره مطالعه او لوست کړی دی، خوده ته له خپلو لوستو څخه یو عالم شکونه پیدا شوی دی. یا په بله ژبه: ده ډیر علم حاصل کړی دی، خو دده علم دده شکونه نه شی لرې کولای دداسې خلکو په حال ډیر افسوس دی چه دوی په کافی اندازه سره لوست کړی وی او په کافی اندازه سره پوه نه شی او ددوی شکونه رفع نه شی کړی.

(ټام پزل) دخپلو دو مره لو ستو له کبله ځان یو آزاد مفکر بولی او دخپل هیواد په قوانینو هم بې له کوم دلیل څخه انتقاد کوی او ملا متوی یې، په همدې ډول په بله دنیا هم اعتبار نه لری. لنډه یې دا چه (ټام) دومره بیدینه دی څومره چه دده استعداد ده ته اجازه ورکوی. ده یو څو مبتذلې موضوع ګانې پیدا کړی دی، کومې چه دی په هغو کښې بالکل خپل ځان ناکام نه بولی، او نه په کښې نوی نظر کوی، په هره موقع کښې چه وی دی یې منځ ته را اچوی او ټینګه عقیده پرې لری، او یو پرلسو شرط پرې تړی. چه نیمې له دغو څخه د تعصب او کشیش بازی پر نامعقولو ستنو ولاړې دی.

دې کار (مسټر پزل) دهغو کسانو په مقابل کښې چه نسبت ده ته لږه پوهه لری ډېر مشهور کړی او په درنه سترګه ورته ګوری. او هغه څوک چه نسبت ده ته ډېره پوهه لری حقیر معرفی کړی او په سپکه سترګه ورته ګوری.

دی په ټول ښار کښې دو مره له چا څخه نه ډارېږی لکه زما له ملګری (ویل ډرای) څخه چه ډارېږی.

(ویل) هغه څوک دی چه تر ټولو مخکښې د (ټام پزل) له منطق سره اشناشو. او په دې هم ښه پوه شه چه (ټام پزل) په مباحثه کښې له موضوع څخه لرې ځی.

نو کله به چه (ټام) په مباحثه شروع وکړه او لږ به له موضوع څخه لرې ولاړ نو سمدلاسه به (ویل) ترې پوښتنه وکړه: (وروسته تر هغه څه وشول؟) مونږ وایو چه داسمه ده، اما دا در ته وایو چه دا خبرې ستاسې له اصلی موضوع سره څه اړه لری؟

زه به ښه ورته ځیروم چه (ټام پزل) به تر نیم ساعته پورې ښې خبرې کولې، اما وروسته له نیم ساعت څخه به ورڅخه ګډې وډې شوې، او (ویل) به بیا خواهش ورڅخه وکړ چه: (دوی دڅه شی دثبتولو له پاره لګیادی؟) نو دی، به په حیرت کښې ولوید.

په خپله (ویل) درایی دیوروښانه او متودیکی فکر خاوند دی، چه ډېر او ږد مطلب په څو کلمو کښې په متودیکی او مستقیم ډول سره ادا کوی. او هغه ګټه چه دده له مباحثی څخه اخستله کیږی، هغه د (ټام) د مباحثی له کټی څخه کومه چه اورېدونکی ته رسېږی ډېره وی.

داداسې مثال لری لکه چه یو وړوکی منظم جګړن ټولګی په یو شمیر زیاتو غیر منظمه جګړنو بری ومومی.

(پای)

ماخذ: دتو لو دپاره اساسي معلومات

د ادب تاریخ

مترجم: میرا کبر

# دنړۍ ادبیات

-٥-

## ویلیم شکسپیر

ویلیم شکسپیر (۱٥٦٤-۱٦۱٦) د انګلستان ترټولو ستر ډرامه لیکونکی و. دده لویی د ده ټولو معاصر شخصیتو نه ترخپل سیوری لاندې راوستی و و. نوموړی د ډیرو لوړو صفاتو خاوند و. خو دا یوه عجیبه خبره ده چه د دده د شخصی ژوند په هکله زموږ معلومات ډیر لږ دی. موږ دومره خبر یو چه دی په (سټراتفورډ-ان-اون) کښې زیږیدلی اومړشوی دی. له (ان ها تاوې) سره یې واده و کړ، وروسته ترهغه چه د تخلف اود غرخود پټو لواه کبله ډیر په تکلیف شو لندن ته وتښتید- هلته یې د (بو رباج) ترلاس لاندې په (ګلوب تیاتر) کښې کار کاوه. دده د شخصیت د څرنګوالی په باره کښې موږ پرته د هغه له درامو څخه بل هیڅ شی په لاس نه لرو. ځینې خلک په دې عقیده دی چه د غه ډرامې د شکسپیر نه دی. هغوی ددی ډرامو اصلی لیکونکی باکون یا دالمان کوم بل کونت ګڼی خو دا ضرورت نه شته چه په دغو اضداد و کښې دلته داخل شو. کله چه موږ د شکسپیر نوم اخلوز موږ مقصد هغه خلاق دماغ دی چه د غه جاودانی کومیدی او تراجیدی درامې یې بشریت ته په میراث پرې ایښې دی چه په معمولی جلد کښې ۳۷ دی- خو منقدین دې نتیجی ته رسیدلی دی چه په کولکسیون کښې ټول لیکل شوی شیان د شکسپیر نه دی. معلومیږي چه (تیتوس اندرونیکوس) د بل پاچا په قلم لیکل شوی دی. داووم هنری پاچالومړۍ اووروستۍ صحنی د شکسپیر په قلم نه دی لیکل شوی. په هغو وختو کښې ډرامه لیکونکو یو له بل سره مرسته کوله - یو له بل کارونه یې اصلاح او تکمیلول - او په عمومی ډول یې یو د بل سره همکاری کوله.

د شکسپیر ډرامې له ډیرو ځایو څخه اخیستې شوې وې - لکه د پلوتارک د ژوند د (هولنشید) د کرانکلز د کاید د ما لتایهو دی، د لاج د روزالینډ او داسې نور.

د غه اخیستل شوې ډرامې د ډرامه تست په نظر کښې داسې وې لکه یوه ټوټه خټه چه د کلال په لاس کښې وی یا یوه ټوټه د مرمرو د بره چه د حجار په لاس کښې وی. دا مهمه نه ده چه شکسپیر د خپلو ډرامو د پاره له کوم ځای څخه مواد اخستی دی بلکه د غوروړ خبره دا ده چه له دغو

موادو څخه یې څه شی جوړ کړی دی. دغلته ده چه موږ دده نبوغ په اعلی توګه وینو.

شکسپیر یوازی ډرامه لیکونکی نه و- بلکه دی یو زبردست شاعر هم وچه په الفاظو کښې یې دسحر قدرت موجودو. که څوک د ده داد دولسمی شپی» یا «دد وبی د شپې دخوب» لومړی کرښې ولولی- هلته به پوه شی چه لیکونکی یې دغټې برخې خاوند دی او دده حماسی استعداد څومره لوړ دی خو دده ترټولو لوړ استعداد دا دی چه په یوې درامې کښې د ممثل داخلی هیجانونه او کوایف په ډیره څرګنده توګه بیانوی. په (رومیو وژولیت) کښې د لومړی مینی بی صبری او سوز په ډیر څرګند ډول موږ ته راښیی. په (اوتیلو) کښې د شرارت او پستی صفات روښانه او برسیره کوی، همدا شان په «مکبت» کښې د یو قاتل و معذب روح. د شکسپیر په ډرامو کښې زیات شمیر مسخرګان موجود دی چه یو بل ته ورته نه دی.

د ډرامو ښځې عجیبی دی- لکه روزالینډ یولا- سایلویا- میراندا ایموجین- ډیسډیمونا- او فیلنیا کارډیلیا- پورتیا میرمن مکبت- دوه ښځې یو بل ته سره ورته نه دی ټولې واقعی دی.

د شکسپیر لومړی ډرامې لکه (دغلطیو کومیډی» او دمینې بایللی محنت» دپلان او ساختمان له حیثه ډیری مصنوعی دی. د ده وروستی ډرامې لکه «هاملت»- ګنګ لیار- او «ټمپسټ» ډیری پخی- خالصی دی او په ډیر قوت سره لیکل شوی دی.

منقدین په دې کښې یوه خوله نه دی چه د شکسپیر ترټولو ستر اثر کوم دی. ځینې دا ادعا کوی چه د زاړه لیونی «کنګ لیار» قصه ترټولو ستر اثر دی- خو هغه اثر چه په ټوله نړۍ کښې یې نوم لګیږی او ډیرو خلکو خبرې پرې کړی دی هغه «هاملټ» دی- هاملټ یوه ډرامه ده چه پوره په شپږو ساعتو کښې تمثیلیږی. خو بیا هم هغه چا چه د دغه ډرام ننداره کړې ده په دې عقیده دی چه لا هم ډیر لنډ دی.

د شکسپیر «دولسمه شپه» د ډیری عالی رومانتیک کومیډی په حیث او «مکبت» د یوې ډیری تاثرناکی تراجیډی په حیث او «ټمپسټ» د عمیقی فلسفې په لحاظ دستاینی او قدر وړ دی. دالیزابت د دورې د نورو ډراماتسټانو اثارنن کله کله ښودل کیږی. کله کله انسان د ډیکنتر (د بوټ ګنډونکی درخصتی ورځ) یا د جانسن (هر انسان په خپل مزاج کښې) ډرامی وینی چه په ځینو تیاترونو کښې ښودلی کیږی. خو له دې امله چه په دغو ډرامو کښې یوازې دهغې زمانې ذوق تمثیل شوی دی ننداره کوونکی یې دومره نه خوښوی. سره د دې هم شکسپیر دهرې زمانې انسان دی. د ده اثار لکه څنګه چه دهغه په خپل زیږنځی کښې ستایل کیږی په المان او روسیې کښې هم ډیر علاقمن لری.

## دالیزابت د دوری لیکوال :

د الیزابت ددورې له نامتو لیکوالو څخه د سروالټر ریلی - سر فلیت سیډنۍ رابرټ هریك - جاندونې او فرانسس بیکن نومونه دیادونی وړدی . دښاغلی فرانسس بیکن درانه اثار لکه دعلم پر مخ تګ - نیواتلانټس او دهغه مقالی تر ننه پوری په ډیر ښه شان دلوستلو وړدی . دده دلیکنو سبك ډیر واضح او لنډو - دسبك په لحاظ له خپلو نورو معاصرو څخه چه دزیات لیکلو و پیچلتوب طرف دار وو ډیر جلا او مخالف و . هره مقاله یې له معنی او مفهوم څخه ډکه ده . او په هرې یوې کښې مختلفې معناوې دی . ده خلك دې ته اړ کړه چه دخپل ځان په باره کښې فکرو کړی . دی له حضرت موسی (ع) سره مقایسه کوی چه موعوده ځمکه یې ولیده خو وې نه شو کولی چه هغه په خپلی قبضی کښې را ولی .

## جان ملټن :

په ۱۶۰۸ ع کال یعنې پنځه کاله وروسته د ټولوا کمنې الیزابتې له مرګ څخه زیږیدلی و . دی یو ستر رزمی شاعر و . دعظمت له کبله له (هومر) او (دانتی) سره مقایسه کیږی . ځینې نقادان یې وروسته له (شکسپیر) څخه دوم سړی ګڼی .

دده ستر او مهم شعری اثر (بایللی جنت) دی چه ددولسو کتابو په شکل لیکل شوی دی . ددغه اثر عظمت په دې کښې دی چه لوستونکی غواړی په یوه مجلس کښې یې ولولی .

دغه اثر په حقیقت کښې یو دینی شعر دی چه دخالق په مقابل کښې دملایکو عصیان او تمرد بیانوی او پدې ترڅ کښې خلقت تاریخ په مکمل ډول څرګندوی .

ددې قصی قهرمان شیطان دی - په دې دسیسې کښې له ده سره ځینی نور شیطانان هم شامل وو لکه مالوخ - بلیال - مامون - لوسیفر - بلزیبوب - له دغو شیطانانو نه هر یوه په ملیونو پیروان درلوده چه له جنت څخه ځمکې ته شړل شوی وو . (لکه چه په (٤) کتاب کښې تشریح شوی ده) دوی په یوې سترې خونې کښې چه پانډمونیم (دشیطانانو هستو ګنځی) نومیده دجګړې پلان ترتیب کړ .

جان ملټن ځینې نور ستر اشعار هم لیکلی دی لکه : بیا ګټلی جنت - سامسن اګونسټس کاموس لسیداس خو ځینې خلك چه د اوږدو شعرونو د لوستلو حوصله نه لری تل دده (له الیګرو) (له پسرومو) او داسې نور لنډ اشعار لولی او خوندتری اخلی .

ملټن په مذهب پیوریټن واود یو څه مودې دپاره د (الیور کرومول) منشی و - خودی په مذهب کښې دومره افراطی نه ولکه چه وروستی پیوریټنان وو . د دې خبرې ثبوت دادی چه نوموړی له موسیقی سره علاقه او مینه لرله او ځینې عشقی دنظم پارچې هم لری چه نور پیوری ټنان یې نه لری او نه یې په مذهب

کښې روا بولی . دملټن ادبی سبك ډیرلوړو . ده په خپلولیکنو کښې ځینی کلا سیك الفاظ چه دده خوښ ووشامل کړی دی . ده په نثر کښې هم ځینې ډیری ښې پارچې لیکلی دی چه ( اریوپا ګیتیکا ) یې ترټولو مشهوره پارچه ده . دغه پارچه په حقیقت کښې یوه وینا ده چه دبیان دازادۍ په باره کښې یې کړی ده . دی لیکی : « د یوه کتاب وژل دانسان له وژلوسره برابردی . هغه څوك چه یوانسان وژنی هغه یو معقول مخلوق او دخدای تصویر وژنی ـ مګر هغه څوك چه کتاب له مینځه وړی په حقیقت کښی عقل وژنی . . . یو ښه کتاب دیوعالی روح ډیره قیمتداره حیاتی وینه ده چه د یوعالی ژوند د پاره را ټوله اوسا تل شوی ده » . ملټن د خپل عمر په وروستیو وختو کښې د هومر په شان په ستر ګو ړوند شوی و . خلك په دې عقیده دی چه ده خپلی ستر ګې د ډیرې مطالعې اولیکلو له امله له لاسه ور کړی وی ـ هغه وخت چه ده دلید و قدرت له لاسه ور کړ ، لونو به یې په اوړ اواز کتاب ورته لوست ، اوده به غوږ ورته نیو . د ده وروستی شعرونه د بل چا په قلم لیکل شوی دی په خپل ړوند والی باندی دده شعر ډیر مشهور دی . داهم باید په یاد ولرو چه « سیم سن » په باره کښې د ده شعر له دې کبله ډیر درد ناك دی چه ( سیم سن ) هم د خپلود ښمنانو له لاسه وړوند شوی و .

**د انګلستان د ولسمی پیړۍ لیکوال ،**

دپیورټن دمذهب ستر لیکوال (جان بون یان شل کاله وروسته له ( ملټن ) نه زیږیدلی و . د دواړو ترمنځ ډیر سخت مخالفت موجود و . ( بون یان ) نظر (ملټن ) ته بی سواده سړی واوله کلا سیکو علومو څخه یې هیڅ برخه نه لرله . د ده زیاتی پارچې په نثر لیکل شوی دی . ډیر ساده لغات یې استعمال کړی دی . د ده په لیکنو کښې ستر لاتینی لغات نه دی استعمال شوی . مثلا (دحاجی مختګ) لومړۍ جملی دومره ساده دی چه ترهغی زیات ساده کید لی نشی . لیکی : « هغه وخت چه زه د دې نړۍ په خرابې کښې ګرځیدم په یوه ځای باندې راغلم . هلته یوسوری و : دبیدیدو د پاره یې دننه سوری ته بوتلم : هلته بیده شوم او خوب می ولید چه ... » ډیر خلك (بون یان ) د (بډ فورډ ) هلبی کار بولی ـ اوهغه وخت چه ده خپل نامتو خوب لیده په هغه وخت کښې په جیل خانې کښې و . دی به ټولنوته د وینا کولوله امله تل په زندان کښې و . کله کله به د جیل خانې مامورینو اوبند یوانانوله جیل څخه د باندې پریښودچه ځینو دینی مراسمو کښې ګډون و کړی . دی ډیرسخت مذهبې سړی و ، دده لومړی اثر (دجهنم اسویلی یادملعون روح ناری) نومیږی . دغه اثرنن نه لوستل کیږی خو دده

( دحاجی پرمختګ ) نومی اثر د نن و رځې په دینی ادبیاتو کښې لوړ ځای لری او شهکار ګڼل کیږی . موږ ترزیاتی اندازې په اولسمې پیړۍ کښې د پیوری ټنانو په باره کښې آورو. دوی د دغی نظر یې په مقابل کښې ودریدل چه ویل یې : (موږ ته ژوند یوازې ددې دپاره راکړ شوی چه دیوې کومیډی په شان ورڅخه خوندواخلو ، زموږ مقدسه وظیفه داده چه اوس باید د راتلونکی ژوند ( د اخرت ژوند) دپاره ځانونه چمتو کړو . د بون یان د دغه ستراثر نظریه د « نه صلیب ـ نه تاج » په موضوع باندې ولاړه ده . کیدی شی چه موږ د ژوند په مقابل کښې دغسی وضع خوښه نکړو خود ده ادبی قوت دستاینی وړ دی له (اپولیون) سره د مسیحی دجګړی شرح ډیره شاندار ه ده.

دلته یو بل نوم هم دیا دولو وړ دی چه هغه د ( جان ډرایډن ) دی . د ده خپلوان شدید پیوری ټنان و و خو هغه وخت چه ( دوهم شارل ) بیا په تخت کښیناست ځوان ډرایډن کلك شاه دوست شو. ده ډیری خوندوری کومیډی مقالی ولیکلی- دارازیې قهرمانانه تراجیډی هم په نظم ولیکلی. ده ځینی په زړه پوری اوښه شعرونه هم ویلی دی لکه (ابسالوم) ( اکتوفل) او (دسکند رمیله) ، دی د دربار شاعر شو. په اولسمه پیړۍ کښې په انګلستان کښی ځینی نور پیاړوی نظم لیکونکی منځ ته راغله. لکه (ایزاك والټن) دبل (ساموبل پی پیس) دی چه یوه سفرنامه لری .

دغه دیوه سړی دورځنی ژوند د ځینو درنو پیښو یو پټ یاد داشت وچه په ځینو مهمو کلو کښې ورپیښی شوی وی لکه ( دستری وبا او دلندن داور کلونه) او په شعر لیکل شوی وو. ددغه شعر کلی ډیر وروسته کشف شوه اودغه شخصی سندټولی نړۍ ته دلوستلو دپاره نشر شو . (پی پیس) دانګلستان په بحریه کښې مهم مقام درلوداود ده خدمتونه دپاچاله خواتل لمانځل کیده. دده د سفرنامې زیاته برخه د ده له عشق بازیو، نویو جامو- حسود ې ښځی - کلیسا او تیاتر ته دده له تلو څخه بحث کوی. د ده سفرلیك د یوې پیړۍ ژوند ته دیوې خیرنی ښیښې کړکۍ حیثیت لری دی روحانی نه و. داسی سړی وچه په عین بی شرفۍ کښې بیاهم دخلکو خوښیده ...

دایوه په زړه پوری خبره ده چه څنګه دعلم او تنور مرکزونه له یوه ځای څخه بل ځای ته نقل شوی دی. څو پیړۍ پخوا د مسیح له میلا د څخه اتن دمدنیت ستر مرکزو. وروسته داتن له سقوط څخه روم د مدنیت او علم مرکز شو . په منځنیو پیړیو کښې دغه مرکز پت دروم دامپراطورۍ شرقی انتها قسطنطنیې ته نقل شو . خو هغه وخت چه ترکانو قسطنطنیه ونیوله دغه مرکز ایټالیې فرانسې بلجیم اوها لینډته ولیبز دول شو- هغه وخت چه په انګلستان کښې دا کسفورډ او کمبریج پوهنتونونه تاسیس شوه د غه مرکزیت له اروپا څخه انګلستان نه نقل شو. په اولسمی او اتلسمی پیړیو کښې پاریس دار وپا د تنور او علم مرکز شو او په فرانسې کښې ستر ادب منځ ته راغی. (نور بیا)

عزیز الفت

# د کونړ په ساپیو کښې حقوقي تعاملات

— ۲ —

دریم : دهمدې کورنۍ روابط په عمومي طور له خپل قام سره :

الف : راکړه ورکړه او معاملات :

ساپي ولس، په لوظ کلك خلك دي، او په خپله وعده وفا کول که څه هم د خپل سر او حیات په قیمت ورته تمام شي، یو ضروري شي ګڼي.

راکړه ورکړه یې ټوله په مودو ده یعنې په یوه فصل کښې مال - پیسې - دانې یو بل ته ورکوي او په بل فصل کښې یې غواړي. په راکړه ورکړه او معاملاتو کښې سند ونه او قوالې نشته. مثلاً په ساپیو کښې، داسې ډیرې ځمکې شته، چه یوه سړي په بل خرڅې کړي وي او قوالي او سند ونه یې سره نه وي ورکړي.

اوس چه په سل هاوو کلونه تیر شوي دي، او د دواړو خواوو څخه ځامن، لمسي، او کړوسي، پاتې دي، او اصل خلك له مینځه تللي دي بیا هم یو په بل دعوې نه کوي.

دا بې سنده فروش د دوی د لوظ او قول پوره نمایندګي کوي. دوی خپل ټول کارونه په خبرو او د خولې په وعدو کوي.

که څوك په معامله کښې بې اعتباره شي، او یا په بد معامله ګۍ شهرت ومومي، بیا هیڅوك له هغه سره معامله نه کوي. جړ او جنجالي معاملې، دولسي او کلیوالي قانون په اساس د پنځو کسو په منځکښې فیصله کوي.

چا ته چه د پړې ګوته ونیوله شي هغه باید ځان ملامت وګڼي او د خلکو فیصله ومني.

له دې سببه چه ټول خلك خوار دي نو معاملات او راکړه ورکړه په کښې ډیر پیښیږي.

د ضرورت په وخت کښې، یو بل ته بې عوضه پورور کول ولسي دود ګڼي. څوك چه څه ولري باید له بل سره کومك وکړي.

دیوې کورنۍ کونډه د بل کاله سړي نه شي کولې او که چا دغسې کارو کړ ډیره لویه ناغه لري.

د ساپیو په محیط کښې، د کونډې مسأله د ډیر پخوانه راپه دې خوا، د ډیرو شخړو او بدبختیو باعث و، او په اکثرو تیرو وختو کښې د ډیرو فامیلونو او کورنیو د نابودۍ موجب ګرځیدلې ده. کونډه د میړه د ورور لومړي مال ګڼل کیږي، او کونډه نه شي کولی چه د میړه د ورور او که ورور ونلري د هغه د تره د ځوي او تربور نه پرته بل څوك وکړي.

که کونډه کوم نارینه اولاد ولری، اودبل میړه کولو نه انکارو کړی او وغواړی چه د خپل میړه په کور کښې دخپل اولاد سره ازاد ژوند و کړی، بیا یې څوك په زور ره نکاح کولی نه شی. کونډه باید د کونډ توب، په ټول عمر کښې، پاك لمن وی او د چا تور ورپسې نه شی، او دمیړه په کور اومال باندې نظارت اواداره ولری. خوهغه کونډه چه دغه اوصاف ونه لری اودمیړه دورور او دهغه نورو وارثان و غواړی چه په نکاح یې کړی هیڅ مانع نه لری اوهیڅوك په کښې د څه ویلو حق نه لری. د کونډې رضائیت هم په دغه صورت کښې هیڅ اهمیت نه لری اوڅوك د هغې خوښې ته نه ګوری.

ښځه لکه د لومړی وار په میړه کولو، دلته هم د دوهم میړه په انتخاب کښې اظهار نظر نه شی کولی.

او که یې و کړی هم بې تاثیره دی.

خپله کونډه بل ته پریښودل د یرلوی عار ګڼل کیږی، اوهیڅوك حق نه لری چه دبل چا کونډه ځانته نکاح کړی، او که چا دغسې و کړه نو له هغې نه بیا د اسې قصې او خبرې ولاړیږی چه اکثره د ډیرو ځوانانو او پیغلو په قتل اوقتال تمامیږی اود ډیرو خلکو د ډیرو بد بختیو سبب ګرځی.

کله کله داسې هم کیږی، چه په یوې کونډې باندې دوه خیلونه و نښلی اوخبره دومره غټه شی چه په زرګونو خلك وخوځوی، پدی ټولو پیښو کښې د کونډی د رایې پا نه سپینه وی او دهغې د رضا یا نه رضاء سوال هیڅ مینځ ته نه راځی.

ددغسی خبرو اخری فیصلی دادی، چه د کونډې غیر مستحق اخیستونکی باید د کونډې نژدې وارث یا تبرته د جرګو په واسطه خپله لور یا خور او که دادواړه نه لری د خپل ورور یا تره لور د بدو په نامه په بدل کښې ور کړی، او د شرم د رفع کولو دپاره د جرګې په واسطه یو پسه د میاملاسره د کونډې د وارث یا وارثانو کره بوځی.

د کونډې وارث، د کونډې د غیر مستحق اخیستونکی یا د خور لور په بدل او د جرګې په مخ د کونډې نه تیر یږی.

دغه په بدل کښې ور کړې شوې ښځه، باید دهغه چاشې چه د کونډې دوارث په فامیل کښې ورته انتخابیږی.

که څوك د چا میړو شه ښځه وتښتوی، نو د هغې په بدل کښې بیا هیڅ نه منل کیږی او دا کار د ښځې او سړی د مرګ نه په پرته په بل څه نه عوض کیږی، او که د چا د ښځې او سړی په مرګ باندې لاس برنه وی هغه باید خپل کور او کلی پریږدی، او چیری بل ځای کښې ستر ګې پټې کړی، او که بل ځای په تلو یې هم وس ونه شی، نو باید په خپل کلی

کور کښې په ټیټ سر او په ډیر توهین سره ژوند وکړی.

که څوك کومه نجلۍ چه اصلاً یی میړه نه وی کړی د هغې دوارثانو د مرضاء نه په پرته په نکاح واخلی باید په بدل کښې یې خپله څوك دجرګو مرکو په مخ نکاح ورکړی، او دپښتونوالی عذر دې هم په ځای کړی او که داسې ونه شی جانبین یو دبل دښمن وی او چه هر وخت یې لاس ورسیږی باید خپل بدل که څه هم - دمقابل لوری په مرګ هم ختم شی، واخلی او دواړه خواوې دخوف او ډار په ویره کښې ژوند کوی.

که څوك دچا ورور یا ځوی ووژنی، دې ته دښمنی او کوونکی ته یې دښمن وایی.

دورور او یا ځوی دمرګ په عوض کښې، هیڅ شی نه منل کیږی، او که څوك یې ومنی کم سیاله - بی تربوره او بې غیرته سړی ګڼل کیږی او اصلاً دچا په نظر کښې د سړی په څیر نه ورځی او هر څوك ورته په سپکه سترګه ګوری.

څوك چه دچا ورور یا ځوی په داسې څه ووژنی چه دوژلو حق پرې نه لری او ناحقه یې مړ کړی، هغه هم باید ځان په مرګ حساب کړی، او مجبور دی دځان دساتلو دپاره له کوره بې احتیاطه ونه وځی دغسې کسان د مرګ دخطر نه هیڅکله نه شی بې غمه کیدای، او څوك چه ددغسې معاملی بدل واخلی څوك یې د سیالانو په قطار کښې نه شمیری.

## ب: دهغوی په غم او ښادۍ کښې برخه اخیستل،

دښمنان هم یو دبل په غم او ښادۍ کښې، باید خپل ټوپکو نه په کورونو کښې پریږدی، او یو دبل په غم او ښادۍ کښې شریك شی. په کلیوالی ژوند کښې، غم او ښادی، دهر چا په کور کښې چه پیښ شی دټولو مشترك او شریك وی.

دیوه بل ته زړه ښه وی یا بد، خو په دغو وختونو کښې، باید واقعې اولانجې پریږدی.

دغم او ښادۍ د خاوند ټول تکلیف او کړاو دکلی دخلکو په غاړه وی حتی که د بل ځای میلمانه هم دهغه کره راشی، دهغه ټول کړاو د کلی خلك په خپلو کښې سره وېشی، او دکور خاوند تکلیف ته نه پریږدی. په دغسی وختونو کښې، هر رنګه مرسته او پورورکول، مادی وی یا معنوی، دټولو خلکو وجیبه ده او دغسې معاملی باید په ګډه ترسره کړی. په غم او ښادۍ کښې، نه یوا ځې ساپی، بلکه ټول پښتانه بې حسابه خرڅونه کوی او ددوی مادی کمزورتیا کښې دا یو مهم عامل دی.

## ج: ددوی دخیښۍ او خپلوۍ ترتیب:

خوراولور میړه ته ورکول او یا ځوی ته دبل خوراولور کول دهغوی په رضا او انتخاب پورې مربوط کار نه دی بلکه دا کار دمور او پلار په تصمیم او انتخاب اړه لری.

دساپیو په محیط کښې، په عمومی صورت، ښځې مخ لوڅې ژوند کوی، ښایې اکثر ځلمیان په زړه کښې وغواړی چه په خپله خوښه ځانته ښځه انتخاب کړی، مگر ددې خبرې ښکاره کول یو عیب گڼل کیږی. ځکه یو ځوان نه شی کولی، چه ځانته په خپله خوښه واده وکړی. په همدې ترتیب جنکۍ هم په خپله خوښه نشی کولی، چه ځانته میړونه انتخاب کړی. کیدای شی چه ځوی په چازړه بایلی، مگر مور او پلار یې ورته بل داسې څوك وکړی چه دده په زړه نه وی.

مگر سره له هغې هم، د مور او پلار په انتخاب کښې څه نشی ویلی. د ځامنو او لوڼو ارزو او خواهش هیڅ ارزښت نه لری او کومه پاملرنه او توجه ورته نه وی.

د خیښۍ ترتیب داسې وی، چه که څوك وغواړی، خپل ځوی یا خپل ور ورته واده وکړی، په اوله کښې، کومه پوهه ښځه یا پوه سړی، د جنۍ مور ته لیږی، او هغه ته خپل مطلب وایې د جنۍ مور دا خبره د جنۍ پلار ته کوی.

که د جنۍ پلار هم رضامندی ښکاره کړی، د دوی دواړو د سلانه وروسته، بیا په پټه دوی هم خپل تمایل ښکاره کوی، او هغوی داسې پوهوی چه گوندې مونږ په دې کار راضی یو.

وروسته له دې مرحلې، د هلك پلار، یو څو د کلی او خو او شا سپین ږیری کسان (میاملا) را ټولوی او د جنۍ پلار کره یې لیږی. د جنۍ پلار هم خپل نزدې خپلوان را ټولوی، او د هغونه هم د یوه رسم ورواج په توگه سلا او مشوره غواړی او کله چه ټول سره راضی شول، نو بیا د ځوی پلار ته د خپلې لور دور کولو اعلان کوی. او په دې ترتیب د کوزدې او بیا د واده مراسم اجرا کیږی چا چه یو وارې کومه ښځه وکړه تو ره وی که سپینه، ړنده وی یا کڼه شله وی یا بل څه، خو دده ښځه به وی او طلاق نه شی ورکولی ځکه چه طلاق په ټولو پښتنو کښې لوی عار او غټ شرم دی.

پای

## ژوندون

دا ژوندون دی دوه ورځې — خلاص به شی او تیر به شی
دا غنی به خاوری شی — ورك به شی او هیر به شی
دا شوندې تودې خوږې — دا دغم صنم قصې
دا کاروان روان روان
ځی به په مخ تیر به شی

(غنی)

دقافلة الزیت څخه

دعبد الله مسیزی ترجمه

# ترجمه دادب او صحافت په خدمت کښې

ترجمه هم د صحافت اوور ځپانه لیکنې له فنو نو څخه یوفن دی، چه د ورځپانو، اوه ورځنیو او میاشتنیو اخبارونو او مجلو په چلیدو اودوران کښې مهم رول لوبوی او ډیر لوی اهمیت لری .-

دترجمې داهمیت یوه وجه داده چه خبرونه مفید او ګټور مضامین، د نویوا ختراعاتو او کشفیاتو په باره کښې خپرونې چه په نورو بیګانه اوپر دیو ژبو خپریږی نوهرڅوك پرې نشې پوهیدلی. نود دې دپاره چه دهر مملکت خلك پرې خبراو پوه شی نولا ئقواو پوهو ترجمه کوونکو ته ضرورت پیدا کیږی چه تر څود پردیوژبو څخه مهم خبرونه، حادثات او واقعات، علمی او ساتنسی کشفیات او نوراجتماعی اوادبی مضامین خپلی ژبی ته را نقل او ترجمه کړی چه دهغی ژبی لوستونکی او اوریدونکی هم پری وپوهیږی اوخبر شی .

ترجمان او ژباړونکی باید د هغې ژبې په اسرارواور موزو ښه پوه او خبروی، کومه چه دی دهغی نه خپلی مورنۍ ژبې ته خبر یا مضمون رانقلوی او ترجمه کوی اوهم ښا بی چه ترجمه کو ونکی د ادبی اوورځپانه لیکلو د ذوق او شوق څښتن وی چه ترجمه روانه اومفیده واقع شي پوهانو ترجمه په دوه ډولونو ویشلی ده: یوه هغه ترجمه ده چه مترجم په کښې مجبور اومکلف دی، چه دبلې ژبې نه مطالب لفظ په لفظ اوټکی په ټکی خپلې ژبی ته ترجمه اورانقل کړی او په اصل مطلب کښې هیڅ ډول تاویل، کمی زیادت او تحریف ونه کړی چه په دی ډول ترجمو کښې درسمی او ګډ واعلامیو، تجارتی معاهدو علمی او ثقافتی تړونونو او مهموخبرونو ترجمه کول شامل دی داسې ترجمی ډیر دقت او احتیاط غواړی او لږه سهو او خطا پکښې جوازنه لری -

دوهم ډول ترجمې هغه ترجمې دی چه مترجم اوژباړونکی په دې مجبور اومکلف نه دی چه ټکی په ټکی اولفظ په لفظ ترجمه کاندی. په دی ډول ترجمو کښې مترجم کولی شی چه دلیکونکی او مؤلف نظریه اودجملا تومعنی خپلی ژبی ته په ازادانه ډول رانقل کړی دعلمی اوادبی کتابونو یادنورو ژبود اخبارونو او مجلو مضامین ترجمه کول په دوهم ډول ترجمه کښې شامل دی. په داسې ترجمو کښې قیداوقیودنشته صرف دومره ضروری دی چه داصل موضوع نه

خارج نشی او د مؤلف مطلب پری نبزدی.
ترجمه سربیره پرورځپانه لیکنې او صحافت، دادب او ثقافت په میدان کښې هم اوړ مقام لری او دهغې په ذریعه او برکت د نور وملکو د پوهانو، لیکوالو او سیاستمدارانو نظریات او د دوی د اذهانو ثمره ز مونږ خپلی ژبی ته رانقل کیږی او په دې ذریعه علم او عرفان دیو مملکت نه بل مملکت ته او له یو ملت نه بل ملت ته ځی او خپریږی او د علم او ادب مینان ور څخه استفاده کوی.

دمثال په ډول کله چه د اروپا پوهانو او مبارزینو امریکا ته هجرت و کړ نو د اروپائی ادب او ثقافت ډیر مهم اوګټور اړخونه او موادیې د امریکا یا نو ژبې ته ور نقل کړل کوم چه د انګلیسی ژبی نه په غیر په نورو اروپائی ژبو لکه فرانسوی وغیره لیکل شوی وو او د امریکا اوسیدونکی د لویدیځ د نظریاتو او افکارو څخه خبر کړل او هغه اجتماعی د رسونه او کتابونه یی د فرانسوی ژبی نه ترجمه کړل کوم چه «کونت» او «دور کایم» لیکلی وو.

ترجمه په ختیځو ملکو کښې هم ډیر اهمیت لری شرقی خلک په خپل ژبه او ادب کښې تعصب نه خوښوی او هر هغه مفید کتابونه، مضامین او خبرونه خپل ژبی ته ترجمه کوی چه د دوی د پیشرفت او پرمختګ په لار کښې و رسره کومک او مرسته کوی مثلاً د شرق خلکو د غرب پوهانو او ادیبانو لکه «روسو»، «ګویته» او «برنارد شا» او داسی نور وډیر ې لیکنی او آثار خپلو ژبو ته نقل کړیدی.

څوک دې داګومان نه کوی چه ترجمه د یوی ژبی نه صرف بلی ژبی ته نقلول دی او بس، بلکه دا یو فن، ابتکار او ابداع ده لکه د تالیف او تدوین په څیر جلا جلا فوانین حق الزحمه او مقررات لری چه قانون پوهان ورته «ذهنی حقوق» وایې. په دی کښې شک نشته چه مترجمین هم پخپل فن کښې د مشکلاتو او سختیو څخه بیغم او خلاص نه دی ځکه چه دا عصر په کوم کښې چه مونږ ژوند کوو د اختراعاتو، علمی کشفیاتو راکټو نو اتمی او هایدروجنی بمونو او مصنوعی سپوږمیو عصر او زمانه ده او هره ورځ نوی نوی نومونه او اصطلاحات منځ ته راځی چه شرقی ترجمه کوونکی ورسره ضرور مخامخ کیدونکی دی دغسی نومونه او علمی اصطلاحات شرقی ژبو ته نقلول او ترجمه کول له مشکلاتو څخه خالی نه دی او د شرقی ژبو ډکشنری او قاموسونه یی دځواب ویلو څخه عاجز دی نو ځکه په شرقی ژبو ترجمه شوی مطالب د غربی ژبو د لغاتو څخه ځان نشی خلاصولی او ضرور به دنو روژبو نوی لغات او اصطلاحات په کښې داخل وی په دی صورت کښې لوستونکی او اوریدونکی هم په آسانتیا سره د مضمون نه پوره مطلب اخستلی نه شی نو لازمه ده

چه نوی قاموسونه او دلغاتو کتابونه جو ړشی چه ترڅودا مشکلات پکښې حل شی -

په اوسنۍ زمانه کښې مترجمین د ادب او ثقافت دفلسفی او تاریخی کتابونو او اثارو په نسبت دساینسی معلوماتو ترجمه کولو ته ډیر میلان اورغبت ښکاره کوی او وائی چه دا عصر داختراعاتو او کشفیاتو عصر دی باید داسی شیان ترجمه شی چه دخلکو ذهنونه دلویو اوتازه شیانو څخه خبر او روښانه کړی .

یوه زمانه وه چه ترجمه کوونکو به د مجلو او ورځپانو دپاره یوالحی ده « برنارد شا » او « ویلز » « ایفابراون » اونورو نظریات او افکار خلکوته ترجمه کول مگر اوس چه دساینسی علومو او فنونو دترقی او پیشرفت نوی عصر او نوی زمانه ده باید داسی شیان ترجمه شی چه دراکټونو مصنوعی سپوږمیو او ذروی چاودنو له ضرر رونونه خلك خبر کاندی او ددوی په معلوماتو کښې زیادت راولی یوژورنالیست په دی باره کښې داسی نظریه ورکړیده : دا عصر د علم او عرفان کشفیاتو او اختراعاتو عصر دی باید داخبارونو او مجلو ښاغلی چلونکی د خپلو اخبارونو او مجلو لومړنی صفحی نوی خبرونو ته وقف کړی او د ادب او اجتماعی معلوماتو سره نوی معلومات هم د خپلې ټولنې افرادو ته وړاندی کړی او په دی میدان کښې چه داخبارونو او مجلو د ښاغلو چلونکو سره کومه وسیله او واسطه شته هغه یوالحی او یوالحی دترجمی ذریعه ده اوبس .

نولا زمه ده چه شرقی ممالك دغرب دپوهانو اثار او نظریات اونورساینسی ، طبی او نور گټور معلومات ترجمه کړی او استفاده تری وکړی

( پای )

## همدردي

پتنگ نه دې په ډیوه چه ستی نشی
بلبل نه دی چه په گل فریادی نشی

زړه یې مه بوله تور کانی دصحرا دی
په لیدو د زخمی زړه چه زخمی نشی

الفت

دمتین خوږ یا نی

# راځه چه بو دبل خو اخوږی شو

اې زمادزړه قطري !... اې زمادژوند باعثه!
اواې زمادر گوویني چه بې له تانه زما دژوند
ونه بې ثمره اووچه ده اوبې له تانه زمادستر گو
تور کسی سپین او نه ښوریږی اواې زماد سعادت
همدمه چه ستا به بیلتون کښې زما د زندگی
ریښی ورستې دی- ستر گې وغړوه- شا او خوا ته
د غور په ستر گو پـه عمیق نظر و گـو ره
پسر لی دی گر د مینا ن له خپلو همر ا ز و
سره واصل شوه- بلبل له گل سره چه د رقیبانو
دظلمونو دلاسه خیری ته تر- سرې ستر گې او ژیړ
رنك ژړیدلی تللی و- بیرته راغلی، نغمې وایی
خوښی کوی سرود غږوی . مطر بانو نوی نوی
ډولونه او ارمونیې غاړو ته اچولې دي ترانې نوې
تال نوی، نغا او گډ اگانی نوی ساز ونه بدل
آ ورازونه نوی شوه دمینې په ښکلی وجود کښې
وینې به چلښت پیل و کړ. بوراهم دبلبل له ضده
د گلانو په سورا او ار غوانی نازك پالنگ کښې
بی غمه خوبونه کوی- ناز نینو پیغلو خپل وربلونه
دقسم قسم گلا نو په امیلو نو سینگار ا و ښا یسته
کړی دی- دعنبری اومشکو په بویو نو د سهار
نسیم هر پلوته ټولې ځمکې آب پا شی کو ی
ا ومعطروی یې - دهرشی دیار او ریبا ر سره
مخلصانه فکرونو ملگرتیا پیدا کړه - اغیا رد
ښکی به ځیر دسهار وزمی په هوا کوی اود خپل
بد عمل ترخه میوه ور کوی چغې وهی فریاد
اوزاری کوی مگر منأسفانه چه هرچا ته خپل
مزی مرعلین دی. په تیره بیادده دظلمونو سره سم
چه په هر خوار کوټی یې کړی وو او د هر شی
د گرانو او خوږو خاطرو سره یې په تر یوه ټنډه
اوغداری گذاره کړې وه - هیڅوك یې ورنه
نه شی خلاصولی او نه ورته دیو ځو ورځو په مخ
مهلت غوښتی شی. نواې زما خوږ منه ارشرینه
یاره! راشه ته هم ددې نندارتون ښه ننداره و کړه
اوددې تابلو څخه یو څه عبرت او پند واخله - رحم
و کړه زما په درددر دمند اوو در دیږه اوله دې
شوموا و ه کر کې وړمنتو اوستمو ځنې تیرشه -
ډیر دې و کړولم اوودې ژړولم- زما د ځوانۍ
ارزودونې تنکی ښاخونه دې ټول وربیل غوڅ
غوڅ اوزخمی دې کړل- زما دژوند دخوښۍ
ونه دې غوڅه کړه. را شه نورمې مه ځوروه
لږمهر او وفا پرما مسکین پیرزو کړه- سنا مینې
زمادژوند ارزښت هرچاته کم اوورك کړه ټول
و کړی راپورې خاندی مسخرې او ملنډې وهی-

راشه تیر شه ... تیرشه له دې ژړ وونکو او دردونکو ظلمو وڅخه. لږمې په معافولو وارزوه که ما اوتا یو دبل په غم غمجن او خواخوږی شو هیڅکله به څوك راته داف اوسن قدرهم ونه وایې اونه به راپورې وخاندې . نوراشه اوزر راشه، مینه پیدا کړه د محبت ښایسته جامه واغونده له ماسره پوره ملاتړ او اشناشه ځکه چه د ژوندون اوزندګۍ څخه همدا مطلب دی او دا ژوند د مینی او دوستۍ له پاره پیدا شوی دی - هو! پخوانی یو پوه د ژوند په باب رایی: (ژوندون د دوستۍ او مینی نه پرته بل مفهوم نه لری بې مینی او بې خواخوږۍ ژوند د مرګ نه بتر دی) . نوراشه داد شیخ چلی نابوده وراسته او زاړه فکرونه وغورځوه. رحم او عاطفه. دلسوزی پیدا کړه ځکه چه ډیر دې رټلی او کړولی یم راځه ... راځه... راځه... که نه چه یو دبل خواخوږی شو او دا د محنت او پیغور ژوندون په خورا هوسایې او خوشالۍ سره سرته ورسوو . والسلام

پای

## پیدایش

او ماځان له ساز کړ پخپله جوړ
د خپل خوب نه د خپل خیال نه
د خپل غم نه د مستۍ نه
د خپل تول نه د خپل تال نه
او ماځان له یار کړ پخپله جوړ
د خپل سوز نه د ارمان نه
د خوبونو نه د رنګونو نه
د ګلونو نه د خزان نه
او ماځان له غم کړ پخپله جوړ
د خندا نه خوشحالۍ نه
د وصال نه د خمار نه
د بهار نه د لولۍ نه
او ماځان له ژوندون کړ پخپله جوړ
د امید نه د رڼا نه
د تیارو نه د ښیرو نه
د غمونو نه د سودا نه
او ماځان له مرګ کړ پخپله جوړ
د ژوندون نه د مستۍ نه
د پسرلی د زیړو ګلونه
د لالونو نه د ځوانۍ نه

غنی

سید احسان الله «هېر»

# بې کچکوله سوالګر

(۱)

دغنمو لو ډېر نژدی و. په ټول ملـك کښې خوارو خلکو دغریبۍ او خوارۍ انتظار ویسته. دغنمو وږو په زېړېدو کښې یو طلایي رنګ ویستلی. وخو هغه غنم چه لا څه وروسته کرل شوی وو سرتر پایه یې لاشنه جامه په ځان وه. زه دموسم دلطافت په لحاظ چه دسړ وهیڅ په وطن کښې نښه نه وه او ګرمی لا وجود نه سیزه هرسهار به چه لمر راجګ شو دسیل لپاره به دغنمو په پټو ګرځیدم. خو په دغه ګرځیدو کښې به د رازمحمد پټی ته ډېر ورتلم ځکه هغه په بزګرو کښې دډېر ښه خوی خاوندو، او همیشه به یې زما ډېر تو دهر کلی کاوه. له بلې خوا د کرلو ریبلو په کار کښې له نورو بزګرو ګړندی و. زه به چه هرسهار دده ځمکو ته تلم، نودی به دخپلې دوه، درې جریبه ځمکې نه لکه پتنګ تاویده او په یو عالم مینه به پکښې مشغول و. دمعمول سره سم زه نن سهار دده دیرې ته ورغلم. دپسرلې ورځې شپې څه داعتبار نه وې. یوه شېبه پسته هوا او سور لمروی خو چه بل سات بیا ګوری ګړز، او ګړوز به وی. زه چه له کوره وو تلم په فضا کښې تورو، تورو وریځو چابکې، چابکې منډې وهلې. زمونږ د کورا ود رازمحمد تر دیرې پورې ښه پوره یوه ټوټه لاروه. زه لا یوسل قدمه نه ومه تلی چه ټوله فضا اه تورو وریځو ډکه شوه او دطبیعت ننداره دې تیارو لږ څه بې خونده غوندی کړه. له خپل تګ نه پښیمانه شوم او مخ په کورو خوځېدم خو چه تر هغو کور ته رسیدم بیا غټی، غټی ږلۍ پیل کړی و. زه څه چابك شوم خو چه تر څو خپلې کوټی ته رسیدم ږلۍ دغوزانو نه لږ څه وړه وه خو داسې په شور او زور راروانه وه چه په څو شیبو کښې یې زمونږ ټول اطراف ډك کړ، او هرې خواته ډېرۍ، ډېرۍ ودریده. ږلۍ چه کراره شوه نو څو شیبې وروسته سور لمر راوخوت، زه له کوره ووتم دوتو سره سم می چه په ځمکو نظر ولویده نو له حده ډېر خواشینی شوم. ټول غنم ستري وترې په پټو کښې پراته وو. بزګر خواران له هرې خوا ډلې، ډلې راوتلی وو او په یوه حالت کښې یې چه سړی ګمان کاوه له ټولو روح تللی دی خپلو ځمکو ته کتل. په پڼه کړو ځمکو کښې یې بالکل وږی په ځمکه ښخ کړی ؤو او په ټول ملك کښې یوه خواشینی ښکاریده. زه همدغه دخواشینی په حال کښې دخپل آشنا (رازمحمد) پټو ته لاړم. درازمحمد خوارچه غنم تر نورو ډېر پاخه ونو ږلۍ ورته

بې له سوا رو اوډنډ رکو یوو ږی هم نه وبرې
ایښی . زه چه وړاندې و رغلم نو را زمحمد
نه یې واړه اولادونه تاورانا وولاړوو اوداسې
ښکاریدل لکه په ټولو چه دغه سیلۍ تېره شوې
وی. زه چه هغه ولیدلم به یوه داسې حال کښې
لکه چه دطبیعت نه یې د نیمې خولې خندا او
څه تصنعی خوښی پور غو ښتی وی شونډې یې
سره بیرته شوې ، په وچو شونډ ویې دمسکا یوه
ترخه څپه وځغلیده او په نیمه خو له خندا یې
زماهر کلی و کړ. ما لادده ډاډ گیرنې ته ځان
جوړاوه چه ده بخپله شروع وکړه چه : دخدای
کارونه دی خیردی دا کار په ټولودی دخدای
په فضا زمونږ تل رضاده غنم که لاړل اوس نو
مجبوریم چه خپل اولادونه بی شیرې او وچې
کاسې ته پریږدم غوامې تندۍ لنگه ده خرڅه
به یې کښې کړم چه کورته پرې څه غنم واخلم ؛
نوره خود خدای هیله ده ، غوا یې خونه شم
خرڅولای ځکه بیا به چاته سوأل کوم او بې له
غنمو خوهم نه شم رغولی باید په کور کښې
خو یو څه غنم ولرم.

له دې خبرو وروسته ما هم د ده څه حوصله
افزا بی و کړه او له څه خبرو وروسته ترې
خواشینې را روان شوم .

( ۲ )

دپسرلی لمرمخ په توتیدور . په یوه گڼه
دیره کښې چه هره خوایې دا وبو شرها راو
دمرغانو چونهارو و په یوه کټ کښې چه ښه
غټ اورنگین د وشك پری پروت وا و یوه غټ
با لښت بی سر ته ایښی و یونو را نې سړی
نا ست و ، دی خلکو د صاحب حق صیب
په نامه پیژ انده . سپینه ږیره یې ولس
ته دده دکرامت لوی دلیل و، سپینې عینکې بی
چه نرۍ نرۍ ډنډې یې د رلودې په سترگو
ایښی وې اولوی،لوی سپین کالی یې اغوستې و
به پښو یې تك سپین څادر را خپور کړی و
دبالښت دپاسه څه زاړه کتابونه هم ایښود شوی
وو چه په کښې دخیرات ډیر ډیر بحثونه وو ،
نن یې هم دمعمول سره سم د ډیرې ډیرو حاضرینو ته
دخیرات فضائل بیان کړه او هغه خیرات چه
خوار به یې کوی او ماړه پیران به یې خو وی
صدقه یې ردبلا و بلله مگر دایې هم علاوه کړه
چه دکلی دملا حق دی .

صیب لا په همدې بیانا تو بوخت وچه د دیرې
له کنج نه یو شیخ جگ شوا و د هغه په
غوږ کښې وپسیده .له دغه پټ راز نه نور څوك
خبر نه شول . خو صرف یو شیخ ته چه د صیب
وفادار مرید او ډیر ستر ماذون ودڅو ورځو لپاره
د ولس نیابت او د صیب سجاده نشینۍ
وروسپارل شوه . د تگ لپاره صیب امر
ور کړچه اسپه باید زین شی. سم د لاسه یو

تکړه شیخ اسپه زین کړه او دصیب د بوه
څوورځنی مسافرت بندوبست وشو، او هغه شیخ
ته چه قایم مقام مقرر شوی و په مخصوصه
ادا سره صیب د و مره و و یلې چه زه ځم
گومان کوم چه په کوزولس ږلۍ اوریدلې
ده چه زمونږ حق په کښې ونه سوځی. شیخ
استغفرالله وویلې او په همدې کښې یې دصیب
پښې چه په رکابو کښې وې ښکل کړی او
صیب روان شو.

(۳)

رازمحمد خوارددنیاله غمو ستړی ستومانه
و. د غریبۍ اولاچارۍ سیلاب په مخه اخستی
و. نن یې ټوله ورځ خپله لنگه غواله جلب
نه نیولې او په ولس کښې یې د خرڅانه
لپاره گرځوله. خو په ټول ولس کښې همدغه
مجبوریتونه وو، کوم چه په رازمحمد وو. ټکنده
غرمه وه. ستړی ستومانه خپلې دیرې ته راغی.
غوایې بیرته په خپل ځای وتړله او خوسی یې
دخپل زوی په لاس کاله ته ولیږه. نن غرمه
خوله دوی سره دوچې ډوډۍ دخوړو هم اسره
نه وه. پریشانه اومغموم په دیره کښې ناست
و. او ستر گې یې په زنگانه ایښی وې چه په دې
کښې احمد گل پری سلام واچاوه. ده
سر راجگ کړ او د احمد گل یې هر کلی
وکړ او ور ته یې د کټ د کښینا ستلو ست
وکړ. احمد گل وویلې چه زه نه کښینم
دمیا صاحب دد یرو صیب په دوره راغلی.
له ولس نه خپله نذرانه ټولوی، او س په
برکلی کښې د ډوډۍ یې هلته وخوړه،
خو گمان کوم چه چای به دلته راورسوی.
راز محمد دا حمد گل نه په یوه پریشانه
اوضاع کښې پوښتته وکړه چه: ولس
باندې خوسږ کال ږلۍ شوې خلکو څنگه
ورسره وکړه؟

احمدگل وویلې: رازمحمده! داڅه وایی،
د ږلۍ په صیب څه. د هغه خپل نذر دی
هرڅنگه چه کیږی وړی به یې، خو دومره
خبره ده چه سږ کال غله نشته زنده سره
مالونه خلکو په نذر کښې ور کړه. په بر کلی
کښې یې له چامیږه، له چاغوا، سخندر،
گډی او، وزې... ورغومې واخستل.
په دی خبرو د رازمحمد زړه د رز ولو یده او
نور چوپ پاتې شو.

څه د رنگ ورسته دې ته صیب
سره له یو څو مریدا نور اغی. راز محمد
هر کلی نه وروسته خپل کور ته لاړ او په
پور یې څه چای برابر کړ، خو چه دیرې
ته یې چای راوړ او صیب ته اوله پیاله په پوره
احترام وړاندې شوه نو په دې وخت کښې
صیب ور ته ځان برابر کړ چه: راز محمد!
دا دومره خپه ولې ښکارې؟؟ شکر دی
کور دی ودان او ملک دې په ځای دی خیر
دی که دی سږ کال غله دانه ږلۍ ووهله

راز محمد ورته په یوه مغمومه لهجه کښی وویلې چه: صیب! ولې به خپه یم د خدای کړه وخو خبره داده چه دا د ستاسو عذر به سبز کال ونه شی — په همدې ځای کښې د صیب یوه شیخ پرې خوله را پریکړه چه: راز محمده داڅه؟ ... دا خبره د کولوده چه تاو کړه؟ څنګه به د صیب عذرونه شی؟؟ د خان خانی ځی او د پیرانو نذرنه ځی او .. شیخ په همدې خبرو کښی وچه حاضرینو یې خبره پریکړه او په یوه آواز (شیخ درست وایی شیخ درست وایې) دهغه خبره تایید کړه.

بیا پرې یوه بل شیخ غبز کړچه: راز محمده! په بر کلی کښې کونډو ښځو د صیب نذر قضا نکړاوته خوشکردی غټ زمیندار یې. راز محمد چه ولیده چه نوره پرې لا رورکه شوه نوځان یې غلی واچاوه ... له چایو وروسته بیا شیخ غبز کړچه: رازو .. راوړه د صیب نذرانه؛ راوړه چه مونږ ځو!

راز محمد وویلې: شیخه! زه خو نورڅه نه لرم خدای او وسه دغه یوه لنګه غوامې ده چه د اولاد واو عیال کالی می هم نشته او غله هم نه لرو. زما زړه وچه خرڅه یې کړم نن سهار می په ټول ولس کښی ګرځولې هم ده، خود دی د پاره چه صیب خپه نه شی، او بیا ښیری و نه کړی خیر دی تاسې یې واخلی.

د صیب ډیر چټک شیخ وویلې چه ښه ـ ښه چه نورڅه نشته اوس دا یوه غواهم صحیح ده. راز محمد خپل زوی ته وویلې چه. هله امیر محمده! بچیه منډه کړه خوسۍ راوله امیر محمد چه کورنه خوسۍ راوستله، نو دوه وړو ورونو او درې خو یندو یې تر نیمایی لارې پورې په خوسۍ پسې منډې وهلې او ژړلې یې، خصوصاً واړه او ماشوم وروریې چه تل به یې ویلې: دا خوسۍ زما ده ډیرې منډې په خوسۍ پسې ووهلې او تردر وڅلورو ورځو یې بیا خوسۍ پسې ژړل.

---

## سړیتوب

دتو تیا نو له وینا دا معلو میږی — چه خبرو باندی څوک نه سړی کیږی

سړی نه دی چه یې کار دسړ ونه وی — په خبرو که هرڅو مره ښه پوهیږی

ښاغلی دادمحمد دلسوز

## ستړی مشی

شاعرانو ـ ادیبانو ستړی مشی
درحمن دبـن طوطیانوستړی مشی

غلیمان د زمانې به تس ونس کړی
په خیرراغلی آزمریانوستړی مشی

د پښتو شمع موبلـه کړه که خیروی
سینه سوو پـتنـګانـوستړی مشی

دخزان له سپیره باده په امان شی
د رحمان دباغ ګلانو ستړی مشی

زړه موبوخ شو په خواری او مزدوری کښې
زماورو نو مزدورانو ستړی مشی

تاسو کړې د ظالم مقابلې دی
غم زبلو ـ مظلو مانو ستړی مشی

د پښتو د باغیچې به حفاظت کړو
ددې ښکلی باغ مالیاروستړی مشی

اورمو پورې دغټ خیټو په خرمن کړو
خواری کښو دهقانانو ستړی مشی

دغریب اولیونی د لسوز خبره
دلندی (۱) مسلمانانو ستړی مشی

(۱) دشاعر دکلی نوم

باور رحیمی

# یاره!

راځه چه لاس ترلاسه و نیسو چمن و گورو
گوډې ړندې په خلاصو سترگو دوطن و گورو
وطن کښې شته دی کنډوالې او هم قصرونه ښکلی
قصر کښې خان په کنډواله کښې به در دمن و گورو
دعیش او نوش په منظرو کښې به سیلونه و کړو
څوك به خندان څوك به ژړاند څوك به غمجن و گورو
د کور او گور په مینځ کښې فرق دژوندون راز راوړی
په ژوند کښې ښایې چه هم شاړی هم گلشن و گورو
د پټو سترگو ژوند کولو در په در کړو و یاره
په خلاصو سترگو به هم دوست او هم دښمن و گورو
ترڅو به حال دتجاهل کښې شپه او ورځ تیر و و
راځه راځه چه د ظالم لنډه لمن و گورو
په اتفاق به له ظالم سره شورونه و کړو
وکړه «باور» یا به خوږ ژوند یا به کفن و گورو

# په تیر کال کښې د پښتو ټولنې مطبوع اثار

پښتو ټولنې په تیر کال کښې - برسیره په نورو مسلکی چارو دغه لاندې کتابونه - تالیفات او تراجم چاپ کړې - داسې ټې هم نور اثار برابر کړی - چه بس د طبع انتظار باسی . هیله ده چه هغه هم په نزدې اینده کښې چاپ شی او ګرانو علاقمنو ته ورسیږی - علاقمن کولی شی چه د پښتو ټولنی پخوانی او پر وسزن مطبوع اثار په ارزانه بیه له پښتو ټولنی او یا پاڼو ځای نه په لاس راوړی :

| د کتاب نوم | مؤلف یا مترجم | موضوع | د صفحو شمیر | د طبع شمیر | دیوه ټوک بیه په افغانۍ |
|---|---|---|---|---|---|
| خیالی دنیا | خادم | غوره ادبی پارچی چه روحیه یی اجتماعی ده او کاملاً په نوی سبک کښل شوې دی | ۹٤ | ۱۰۰۰ | ۱٦ |
| دافغانستان دځینو ژبو او لهجو قاموس | عبد الله بدخشی | د افغانستان د پامیر د شاوخوا دپنځو لهجو (سنګلیچی - واخی اشکاشمی - منجی - شغنی) اودوه ژبو (پښتو او فارسی) قاموس چه ۵۰۰۰ لغتونه لری | ۲۲۵ | ۳۰۰۰ | ۲٤ |
| د غنی پلو شې | غنی خان | دغنی خان د ۲۳ کلونو داشعارو مجموعه ده چه لبزو ډیر شپږ نیم زره بیته او عشقی - فلسفی حماسی او اجتماعی رنګ لری او په پوره نوی سبک ویل شوی دی . | ۲۳٦ | ۳۰۰۰ | ۵۰/۵۸ |
| لیکوالی (املاء او انشاء) | الفت | له املا او انشا نه غږیږی او د پښتو نخواد زیاترو پخوانیو او او سنیو لیکوالو د غوره لیکنو نمونې معرفی کوی. | ۲۲۰ | ۳۰۰۰ | ۳۵ |
| رڼا | صداقت | د رڼا په باب لومړنی اساس معلومات ور کوی | ٤٤ | ۱۰۰۰ | |
| دماکسیم ګورکی ادبی لیکونه. | ح کاکړ | د ګورکی هغه لیکونه دی چه د خپل وخت شوروی او د نړۍ لیکوالو ته یې د ادبی نقد په باب استولې دی . | ٤٦ | ۱۵۰۰ | ۱۰ |

# KABUL

## Monthly Journal of the Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy, Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Hasan Kakar

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه